دعامې روغتيا وزارت

# د روغتون لپاره اسلامي لارښود

الحاج پوهندوی دوکتور ظاهرګل ځدراڼ

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم: | د روغتون لپاره اسلامي لارښود |
| ژباړن: | الحاج پوهندوی دوکتور ظاهرګل ځدراڼ |
| کمپوز/ډيزاين: | صفت الله خالد |
| چاپ کال: | ۱٤۰۲هـ،لمريز |
| دچاپ وار: | لومړی |
| دچاپ شمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |

دچاپ حقوق د عامې روغتيا وزارت سره خوندي دي

# ډالۍ

د اسلامي امت ټولو مسلمانانو، خپلو ټولو استادانو ،ښوونکو او هغوی ته چې د زده کړې او تحصیل تر دورې یې د پوهې په مشالونو زما لاره روښانوله.

خپل ګران پلار،خوږې مور او درنې کورنۍ ته چې د ژوند په ټولو پړاوونو کې یې زما مرسته او ملاتړ کړی دی.

ظ.ځدراڼ

# د کتاب په هکله تقریظ

((**د روغتون لپاره اسلامي لاربښود**)) تر عنوان لاندې کتاب چې د نور سترګو روغتون د رئیس الحاج پوهندوي ظاهرګل ځدراڼ لخوا ژباړل شوی، په هر اړخیز ډول مې له پیله تر پایه ولوست، په اړه یې خپل نظر داسې شریکوم:

دا چې الحمدالله په افغانستان کې د اسلامې امارت نظام حاکم دی او نوموړی کتاب  هم په روغتونو کې د اسلامي لاربښود تر عنوان لاندې خپرېږي؛ د افغانستان د ټولې طبي کورنۍ لپاره ډېر اړین او ګټور کتاب دی. ددې کتاب په لوستنې سره به له یوې خوا زموږ روغتیایي کارکوونکي د الله تعالی په نزد د خپل کار په ارزښت، قدر او قیمت پوه شي او له بلې خوا د اسلام له نظره هغه حقوق چې ناروغ یې په روغتیایي پرسونل لري، په بشپړ ډول پرې پوه شي.

باید وویل شي چې نوموړی کتاب په ساده او روانه پښتو ژبه ژباړل شوی، چې ټول لوستونکي په ځانګړي ډول د روغتیا د برخې کارکوونکي ترې په اسانه ګټه اخیستلی شي.

په پای کې د الحاج پوهندوی ظاهر ګل ځدراڼ څخه مننه کوم چې د نوموړي مهم کتاب په ژباړه کې یې زیار ایستلی، د الله تعالی څخه نوموړي ته د نیکې بدلې او عظیم اجر غوښتونکی یم.

درنښت

الحاج ډاکتر قلندر "عباد"

د عامې روغتیا وزارت سرپرست وزیر

# لیکلړ

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |


د کتاب په هکله تقریظ ........................................................ ب

سریزه ........................................................ ۱

**د یوه اسلامي روغتون لید لوری، موخې، ماموریت او  اساسي اصول.................. ۲**

لید لوري: ........................................................ ۲

ماموریت: ........................................................ ۲

موخې: ........................................................ ۲

اساسي اصول ........................................................ ۳

د اسلام اساسي لارښوونې ........................................................ ۵

مقاصد شریعت........................................................ ۵

قواعد شریعه ( مشروع حقوقي اصول) ........................................ ۶

ظوابت‌الشریعه ........................................................ ۸

په طبابت کې د ضرورت او رخصت  د اصولو تطبیق .................................. ۹

ایمان (ایمانیات) ........................................................ ۹

ضرورت :- Neceesety ........................................................ ۱۱

سختي یا(تکلیف)........................................................ ۱۱

رخصت........................................................ ۱۳

حلال، حرام او مشتبهات ........................................................ ۱۵

**په اسلامي روغتون کې د عباداتو ترسره کول ................................ ۱۸**

ځینې عام (عمومي) غلط تصورات( خیالونه ) ........................................ ۱۸

د روغتونونو اداري مکلفیتونه ........................................................ ۱۸

اودس Ablution ........................................................ ۲۰

لمونځ ........................................................ ۲۰

اودس او تیمم........................................................ ۲۵

زوړ عمر او ضعف ........................................................ ۲۶

له ناروغۍ وروسته پړاو ........................................ ۲۶
د ناروغانو کړاوونه او د طبي کارمندانو چلند ........................ ۲۶
**د یو اسلامي روغتون چلول (پرمخ بیول) ................................ ۲۸**
د روغتون کلچر ځانګړتیاوې ........................................ ۳۰
دیوه مسلمان ډاکټر طبي اخلاق ........................................ ۳۲
د اسلامي روغتون ډاکټران ........................................ ۳۴
په اسلامي روغتون کې د نرسینګ کارکوونکي ........................................ ۳۶
په روغتون کې د مسلمان نرس رول ........................................ ۳۷
**د اسلامي ټولنې په روغتون کې زده کړیالانو ته تدریس ورکول ........................ ۴۲**
عمومي قواعد: ........................................ ۴۲
زده کړیالان په ټولګي کې ........................................ ۴۳
زدکړیالان (محصلین) د استادانو سره ........................................ ۴۳
زدکړیالان په وارډ او معاینه خانه کې ........................................ ۴۳
زدکړیالان له نرس کارکوونکو سره ........................................ ۴۴
د روغتون نور مرسته کوونکي کارکوونکی ........................................ ۴۴
**د اسلامي ټولنې په روغتون کې د بشري منابعو پراختیا او روزنه ........................ ۴۵**
د نویو کارمندانو لپاره پروګرامونه: ........................................ ۴۵
د اعتکاف (خلوت) پروګرام ........................................ ۴۶
اونیز پروګرامونه ........................................ ۴۶
د کارمندانو لپاره تعلیمي حلقه ........................................ ۴۶
د مشرانو، څارونکو( د سوپروېزرانو) لپاره تعلیمي حلقه ........................ ۴۶
په اسلامي روغتون کې د ډاکټرانو لپاره تعلیمي حلقه ........................ ۴۷
قران کریم د تلاوت پروګرام په ورځ کې یوه صفحه تلاوت کول: ........................ ۴۷
د اسلامي لکچرونو پروګرام ........................................ ۴۷
د شنبې ورځې لکچرونه ........................................ ۴۷
د قیام الیل پروګرام ........................................ ۴۸
د نورو روحاني پروګرامونو وده ........................................ ۴۸

اقامة الصلوة ........................................................ ٤٨
د جنازې د ترسره کولو ورکشاپ ...................................... ٤٨
پرله‌پسې طبي زده کړې ................................................ ٤٨
د کارکوونکو خیریه (مرستندویه) فنډ ................................ ٤٩
په روغتون کې د شرعي شورا جوړول .................................. ٤٩
د کارمندانو لباس ......................................................... ٤٩
شکایتونو ته رسیده ګي ................................................. ٥٠
د مذهبي چارو د څارنې مامور (عالم) ................................ ٥٠
د Out Patient اړوند د دندو لایحه .................................... ٥١
د وارډ اړوندو دندو تشریح .............................................. ٥٢
**مالي مدیریت ........................................................... ٥٣**
١ -(income)عایدات ..................................................... ٥٣
٢- لګښتونه .............................................................. ٥٤
٣-وده او پرمختګ ....................................................... ٥٥
٤ -د خرید پانګه ........................................................ ٥٦
٥-د شتمنۍ مدیریت ...................................................... ٥٧
٦- پانګونه (سرمایه ګذاري): ............................................ ٥٧
**د روغتون د کارمندانو د استخدام، دانتخابولو پالیسي او کړنو ارزونه ............ ٥٨**
د Staff یا کارمندانو اړتیا ................................................. ٥٨
د پروسیجرونو او ټاکلو پالیسي او د استخدام امر لیکل ................ ٥٩
د دندې درخواست محرمیت ................................................ ٥٩
له استخدام وړاندې طبي ارزونه ......................................... ٥٩
د حوالې او اعتبار تصدیق ................................................. ٦٠
پر دنده ګمارل ............................................................ ٦٠
د دروغو ژمنې کول ........................................................ ٦٠
د نوي کارکوونکي معرفي کول ........................................... ٦٠
ازمایښتي (امتحاني) دوره ................................................ ٦٠

د کړنو (فعالیتونو) ارزونه ........................................٦١
کلنۍ ارزونه ...................................................٦١
وده او روزنه...................................................٦١
د روزنې د اړتیاوو ارزونه ........................................٦٢
د روزنې پلان ..................................................٦٣
تطبیق .........................................................٦٣
ارزونه.........................................................٦٣
معاش/ د معاش جوړښت ...........................................٦٣
پخپل وخت د معاش ورکول.........................................٦٤
د مسؤلیت او د کار زیاتېدو پر وخت د معاش زیاتېدل ...................٦٤
د اضافي کار اجوره...............................................٦٤
امتیازات .......................................................٦٤
د کارمندانو ډیسپلین او مجازات ..................................٦٥
د کارکوونکو سره په درنښت چلند کول ...............................٦٥
قرارداد ته پابندي ...............................................٦٥
د کار زیاتوالی ..................................................٦٥
اجباري اضافي کار کول ...........................................٦٦
د استخدام یاد کار اړوند ابهام.....................................٦٦
د غیر مسلمو حقوق ...............................................٦٦
جشنونه او نمانځغونډې (Function and Parteius) .....................٦٦
رسمي لباس (Dress Cuds) ..........................................٦٦
د کارمند د رخصت کېدو پر وخت د هغه درناوی:.........................٦٦
د وتلو وړاندیز Exit Feedback.......................................٦٧
د کارمند د وروستیو معاشونو پر وخت تصفیه ..........................٦٧
غلط وړاندیز یا فیډبک.............................................٦٧
د ټولنیزو چارو شعبه .............................................٦٧
د جنازې ترتیب ..................................................٦٨

اونیز اسلامي لکچر ........................................................٦٩
مشوره.........................................................................٦٩
**په روغتونونو کې د مقابل جنس اغېزه ..................................... ٧٠**
د لباس اړوند آداب ........................................................٧١
د فزیکي معاینې پرمهال آداب.............................................٧١
د مقابل (مخالف) جنس سره د خبرو کولو آداب...........................٧٢
د کار سفر او ملاقاتونو حدود او آداب .......................................٧٣
د مقابل جنس سره (جذابیت) د مخنیوي لپاره میتودونه او آداب .........................٧٣
**د درمل جوړونکو شرکتون سره د روغتونو او کارکوونکو ډاکټرانو تعامل..................... ٧٥**
عمومي اصول ...................................................................٧٥
درملو د استازي سره لیدنه، تحفې او Promatinal توکي. .......................٧٥
په روغتون کې دوامداره طبي زده کړې ، ملاقاتونه ، کنفرانسونه.......................٧٦
طبي تحقیق یا څېړنه ............................................................٧٦
د روغتون سره دوا شرکت همکاري...........................................٧٧
له روغتون څخه رضایت لیک: ......................................................٧٨

# سريزه

د الله تعالی ډېر شکر کوونکی یم ، چې ماته یې د دې وړتیا او توان راکړ، چې د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت ټولو دولتي او خصوصي روغتونونو ته د روغتون لپاره د اسلامي لارښود تر عنوان لاندې کتاب وژباړم.

د نوموړې ژباړې لپاره زه د عامې روغتیا وزارت محترم وزیر صاحب الحاج دوکتور قلندرعباد لخوا وهڅول شوم، لومړی د قدرمند وزیر صاحب نه له زړه تله مننه کوم ، ځکه چې نوموړي کتاب د امارتي او خصوصي روغتونونو لپاره اړین او لازم دی، ترڅو زموږ محترم داکتر صاحبان د خپل کار او زیار چې هر وخت یې د ناروغانو سره تېروي، د الله جل جلاله په نزد له اجرونو او ثوابونو خبر شي او له بلې خوا هغه حقوق چې  ناروغ یې په داکتر او یا نور روغتیایي کارکوونکو لري، ترڅ خبر شي، ترڅو یې د الله جل جلاله د عذاب نه ځان ساتلی وي.

د یادونې وړ ګڼم، چې ددغه کتاب زیاته برخه د هغه کتاب څخه ژباړل شوې، چې پیښور میډیکل کالج له لورې (Islamic Hospital Guidline) تر نامه لاندې په انګلیسي ژبه چاپ او خپور شوی دی.

په پای کې زه له محترم امیرمحمد یون ، محترم میرویس احمدزي او جناب شیخ عبدالهادی مجاهد څخه د زړه له  تله مننه کوم چې زما سره یې د نوموړي کتاب په ژباړه او بیا ځلې کتنه کې همکاري  کړېده، ټولو ته د الله تعالی څخه د اجر او نیکې بدلې غوښتونکی یم.

په درنښت

پوهندوی دوکتور ظاهرګل (ځدراڼ)

## د یوه اسلامي روغتون لید لوری، موخې، ماموریت او اساسي اصول

### لید لوري:

- د یوه روغتون لید لوری عبارت له اسلامي اصولو سره سم ټولنې ته د غوره مسلکي خدمتونو وړاندې کول دي.

### ماموریت:

- له اسلامي اړخه په روغتیایي پاملرنه او درملنه کې مرسته کول .
- په ټيټه بيعه د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول.
- د روغتون په هر کارکوونکي کې د اعتماد او مسؤلیت احساس پیدا کول په داسې ډول چې خپله دنده عبادت او نیک عمل وګڼي.
- له ټولنې سره د هر اړخیزو تبلیغاتي فعالیتونو له لارې مرسته کول او په خاص ډول د طبي تعلیمي سکتور سره، ترڅو د ټولنې سره د روغتیا او متوازن کېدو په برخه کې مرسته وکړي تر څو روغتون د دعوت په یو اساسي مرکز بدل کړي .

### موخې:

- پر دې ځان پوهول چې اسلام د ژوند د یوې جامع لارې په توګه وټاکي .
- په اسلام کې د عبادت د مفهوم په تشریح پوهېدل .
- ټول کارکوونکي پر دې پوهول چې د دوي دنده د الله (ج) له لوري یو امانت دی.
- اسلام انساني کراماتو او عزت النفس ته د ژمنتیا لوړول .
- د الله (ج) د رضاء د ترلاسه کولو لپاره په جامع ډول سره په ګډه کار کول.
- خلکو ته د ښو خدماتو د وړاندې کولو په موخه د روغتون د ټولو خدمتونو لا ښه کول، چې دا امت (ډله) د الله جل جلاله له لوري غوره بلل شوی امت دی .
- دابايد روښان کړو چې اسلام د ټولو انسانانو لپاره رحمت دی .
- د ټولنې لپاره لومړنی ضرورت د روغتون جوړېدل دي .
- د روغتیایي خدمتونو د موډلونو له لارې د تبلیغاتي پروګرامونو یوه برخه کېدل .
- د تجارتي او تبلیغاتي پروګرامونو یو ځای کول چې د الله (ج) رضاء هم پکې حاصله شي.

## اساسي اصول

- غوره والی

اسلام د یوې دندې په ښه او غوره توګه سرته رسولو باندې ټینګار کړی دی، لکه څرنګه چې جناب حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ أَرْهِقُوا الْقُلَّةَ، قَالَ أَبُو حَفْصٍ يَعْنِي مُطَيَّنٌ، أَيْ ادْنُوا إِلَيْهَا، فَإِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يُحِبُّ إِذَا عَمِلَ أَحَدُكُمْ عَمَلا أَنْ يُتْقِنَهُ (البيهقي في الشعب الإيمان)

ترجمه: بېشکه الله (ج) په تاسې کې هغه څوک خوښوي چې هغه خپل کار په ښه توګه ترسره کوي.

**د الله (ج) څخه وېره**

دا په یوه مشهور حدیث (حدیث جبرایل) چې د اسلام او ایمان په باره کې راغلی په لاندې ډول تشریح شویدی:

کله چې جبرایل علیه السلام له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه نو حضرت محمد صلی الله وسلم ورته وفرمایل:

أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنَّكَ إِنْ لا تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ (مسلم)

ترجمه: کله چې ته عبادت کوې پداسې ډول یې ترسره کړه ګویا چې ته الله (ج) وینې (یعنې کوم عمل چې کوې نو داسې وګڼه چې ته الله جل جلاله مخامخ وینې) که ته هغه نشې لیدلی نو هغه خو تا وینې.

کله چې یو څوک د قانون له وېرې یوه دنده په ښه ډول ترسره کوي نو کله چې له دوی څخه ناظر یا څارونکی یوې خوا شي یعنې موقعه ورته پیدا شي نو پخیله دنده کې تخلف (غفلت) کوي خو کله چې د الله(ج) څخه وېره موجوده وي نو بیا شخص د ناظر د موجودیت او امتیاز غوښتنې پرته په ټول توان او هڅه کوشش کوي ترڅو ورسپارل شوی مسولیت په ښه ډول سره ترسره کړي.

- مسؤليت

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمايي:

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه وسلم (مَنْ تَطَبَّبَ، وَلَمْ يُعْلَمْ مِنْهُ طِبٌّ قَبْلَ ذَلِكَ، فَهُوَ ضَامِنٌ) (ابن ماجه)

ترجمه: هغه څوک چې پرته له مناسبې پوهې يو څوک تداوي کوي نو همدا شخص يې مسئول دی.

# د اسلام اساسي لارښوونې

## مقاصد شريعت

مقاصد شريعت (د شريعت اهداف) هغه لارښوونې دي چې د عملي کوونکو سره دا مرسته کوي چې دا تفکيک کړي چې کړنې يې د اسلام له غوښتنو سره سمې دي او کنه؟ د مقاصد شريعة، اصطلاح معنا د (شريعت اساسي اهداف) ده چې د علماؤ پواسطه سره د اصولو پر بنياد په داسې ډول ترتيب شوي چې ټول ښه (مصالح) ترې راخيستل شوي او سخت ترين (مشاقه) يې راکړي او همدارنګه د دوی د اهميت په اساس کې د دې اهدافو د تطبيق تشريح هم کړي ده.

د شريعت د اهدافو لاسته راوړنه له لاندې شيانو عبارت ده.

- دين : د مذهب ساتنه.
- نفس: د ژوند ساتنه.
- عقل : د عقل ساتنه.
- نسل : د اصل او نسب ساتنه.
- مال : د جايداد ساتنه.

د دې لپاره چې طبي کارکوونکي خپلې دندې د اسلامي لارښوونو سره سمې ترسره کړي نو لاندې پنځه د شريعت اساسي اهداف بايد په ترتيب سره عملي کړي.

- د دين ساتنه (حفظ الدين)

د ناروغ د تداوي اړوند د هرې پريکړې پر مهال د دين ساتنه بايد د هر طبي کارکوونکي د لومړيتوبونو څخه وي.

- د ژوند ساتنه

د طبي علومو يو هدف دادی ترڅو د ښه ژوند د کيفيت څخه مطمئين شو پداسې ډول چې الله (ج) په لاره کې په ښه ډول سره خدمت ترسره کړو.

- د عقل ساتنه

د يو طبي کارکوونکي دا مسؤليت جوړيږي چې د ناروغ اړوند د ټولو فيصلو او کړنو د کولو پر مهال د هغوی د معقوليت او د عقل د ساتلو لپاره کمک وکړي چې دغه موضوعات اکثره د رواني روغتيا سره تړلي لکه د الکولو او مخدره موادو په روږدو کسانو کې.

- د اصل او نسب ساتنه

د اشخاصو د نسب او کورنۍ بنسټونو اړونده ځان مطمین کول چې محفوظ او ساتل شوی دی؛ لکه د مثال په ډول د حمل، د حمل ځخه وروسته اړونده موضوعات.

- د شتمنۍ یا جایداد ساتنه

ثروت او جایداد د الله (ج) له لوري یوه ورکړه ده چې د انسانانو په لاسو کې یې ورکوي چې د اخرت په ورځ  به یې هر یو ځواب ویونکی وي،  طبي مسلکیان باید د ناروغ د ثروت او جایداد ساتنه په پام کې ونیسي او د هغه د بې ځایه مصرف څخه ډډه وکړي؛ کنه د دغه کړنې ځواب ویوونکي به وي.

## قواعد شریعه (مشروع حقوقي اصول)

د مقاصد شریعة تطبیق د لاندې پنځو کلیدې شریعة قواعدو په اساس بناء دي.

١.  نیت (القصد)

هر څه باید د الله (ج) د رضاء لپاره ترسره شي؛ ځکه قضاوت د انسان د هغه نیت سره سم ترسره کېږي.

٢.  یقین

د هر قدم اوچتولو پر مهال باید لوړه کچه یقین او باور موجود وي ،زیات باور او یقین ته اړتیا ده.

٣.  ضرر(جرحه)

ددې اړوند په لاندې ډول په ځینو اصولو پوهېدل اړین دي.

- د یوې جرحې پرمهال باید داسې کومک ترسره شي چې په التیام (زخم جوړېدو) کې مرسته وکړي.



- يوې جرحې سره بايد داسې ډول مرسته ونشي چې بالاخره ورته تاثير ولري لومړي په طبابت کې وقايه راځي چې ترسره کېږي.
- کله چې دوه انتخابه ولرو؛ نو لومړي يې هغه انتخاب کړئ چې لږ ضرر لري.
- د ټولنې ګټې (مصالح) تر فردي ګټو پورته او غوره دی.
- که چيرې د يوې کړنې يا د انتخاب پرمهال له ستونزې سره مخ شئ نو د استخارې لمونځ ترسره کړئ.

## ٤. مشقت (المشقه)

- د داسې کړنو اجازه راکوي چې په شريعت کې يې کول جواز نه لري.
- کله چې د يو داسې کړنې په کولو مجبور شئ چې د شريعت سره په ټکر کې وي نو د هغې لپاره بايد يو سرحد موجود وي چې له هغې څخه تېری ونه شي.
- کله چې د (المشقه) سره مخ کېږي نو پدې صورت کې پر بل چا د مسؤليت ور اړولو اجازه نه لرئ.

## ٥. رواج(عرف)

علاج يا تداوي بايد د مروجه يا موجوده معيارونو سره سم چې د شريعت سره په تناقض کې نه وي، ترسره شي.

د یو طبي مسلکي کارکوونکي سره د ورځینو دندو پرمهال د مقاصد شریعه دا پنځه اصول مرسته او کمک کولای شي.

## ظوابت‌الشریعه

دغه مقررات ډېره متمرکزه او محدوده ساحه لري، چې د فقهې یو ځپرکی په بر کې نیسي.

- وړتیا (اتقان)
- غوره والی (احسان)
- برابروالی (توازن)
- باور اعتماد (امانه)
- انتقاد (احتساب)

یو ډاکټر باید تخنیکي او د غوره کار کولو وړتیا ، په عمل او کردار کې توازن ولري او په دې پوه شي چې د زیات اعتماد څخه برخمن دی او همدارنګه په دوامداره توګه خپل ځان تر احتساب او انتقاد لاندې رانه ولي.



## په طبابت کې د ضرورت او رخصت د اصولو تطبیق

اسلام د ژوند لپاره د قوانینو یو ټولګه ده؛ لکه د نور مسلکونو په شکل د یو مسلمان لپاره ډېره اړینه ده چې لږ ترلږه دومره پوهه ولري چې لاندې څلور شیان د اسلام په راښودل شوې طریقه باندې عملي کړي.

## ایمان (ایمانیات)

الهي عبادات (عبادت): معملات خصوصاً د انسانانو سره او دومره اسلامي پوهه درلودل چې د خپل مسلک اړوند کړنې له اسلامي اصولو سره سمې ترسره کړي.

یو مسلمان ډاکټر باید بې غوره نه وي، له ده دا تمه کېږي چې هر څه په پوره دقت او صمیمیت ترسره کړي او همدارنګه په ټولو خلکو باندې د نژاد، رنګ مذهب او جنسیت په پام کې نه نیولو سره یو شان نظر ولري.

اسلام یو عملي دین دی چې د خلکو طبعي غوښتنې په پام کې لري او د خلکو لپاره اسانتیاوې رامنځ ته کوي، اسلام د سختۍ دین نه دی؛ لکه څرنګه چې الله (ج) د قرانکریم په ډېرو ځایونو کې فرمایي د مثال په ډول:

﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ البقرة ـ ۲۸۶

ژباړه: الله (ج) نفس ته د هغه له وسې څخه پورته مسولیت نه متوجه کوي:

﴿وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ﴾ الانعام ـ ۱۱۹

ژباړه: په داسې حال کې چې د کومو شیانو استعمال چې الله ج له اضطراري حالاتو څخه پرته په نورو ټولو حالتونو کې پر تاسی حرام کړی دی.

يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا، وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا (بخاری)

ترجمه: آساني کوئ او سختي مه کوئ، زېری ورکوئ او خلک مه متنفر کوئ.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى رُخَصُهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ تُؤْتَى مَعْصِيَتُهُ (البيهقی، صحيح ابن خزيمة و ابن حبان)

ترجمه: الله خوښوي چې په رخصتونو دې يې عمل وشي لکه څرنګه چې، نه يې خوښېږي چې نافرماني دې يې وشي.

إِنَّ خَيْرَ دِينِكُمْ أَيْسَرُهُ، إِنَّ خَيْرَ دِينِكُمْ أَيْسَرُهُ (ادب المفرد، مسند احمد)

ترجمه ! بېشکه ستاسو د دين ترټولو غوره کار هغه دی چې آساني ورکې وي، بېشکه ستاسو د دين ترټولو غوره کار هغه دی چې آساني ورکې وي.

د اسلامي فقهې نظام هم په ورته اوصولو بنياد شوی او کوښښ شوی دی چې د اسلامي شريعت په چوکاټ کې آساني منځ ته راوړي، اسلام د انسانانو اعمال په حلال، حرام او مباح سره طبقه بندي کړي دي، چې ددې ټولو وروستی هدف انسانيت ته ګټه رسول دي، چې د هغه له لارې د الله (ج) رضا حاصلېږي.

د حرامو او حلالو اړوند الله (ج) په قرانکريم کې په واضح ډول سره حدود ټاکلي دي؛ الله (ج) فرمايي:

(تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا) البقرة ـ ۱۸۷

ژباړه : د خپلو ميرمنو سره نژدې والی مه کوي دا د الله ج وضع کړی حدود دی

تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (البقره ۲۲۹)

ژباړه : د الله ج ټاکلی پولی دی له دې څخه مه اوړئ او څوک چې د خدای ج به پولو څخه واوړی هغوی ظالمان دي.

څرګنده ده چې له يوه پلوه بايد د ضرورت او رخصت په حالاتو چې کوم ځای ضرور دی خبر واوسو او له بله پلوه بايد د دې مهمو اصولو په محدود تطبيق باندې پوه وو.

ددې لپاره بايد په لاندې شيانو پوه شو .

۱) ضرورت تعريف، اندازه او طبقه بندي

۲) رخصت، تعريف او ډولونه يې

۳) په ځينې طبي مسايلو کې د رخصت تطبيق

**ضرورت : Neceesety**

ډېری اسلامي علماوؤ او فقهاوو ضرورت داسې تعریف کړی دی:

ضرورت له هغه حالت څخه عبارت دی چې په هغه کې انسان د منع شویو شیانو یا عمل کولو ته اړ شي او په نه کولو سره یې د ژوند شدیدې بې نظمۍ سره مخ کیدلی شي.

امام شاتبي (رح)، وهایت الزوهیلي (رح) او نفسي عثماني (رح) هم ورته نظرونه څرګند کړي دي. د ضرورت مقصد په سختو حالاتو کې د لوړو شرعي مقاصدو لکه دین، ژوند، عقل او صحت ساتل وي، نو له همدې امله باید پر دې پوه شو چې تکلیف یا سختي څه شي ده؟

## سختي یا(تکلیف)

هغه حالت چې د یو کار په ترسره کولو کې یوه اندازه ستونزه پیښوي تکلیف بلل کېږي چې د اندازې یا درجې له لحاظ په درې برخو باندې وېشل کېږي.

۱. اعظمي یا تر ټولو لوړه اندازه

په دې اندازه کې د ژوند بایللو او یا هم د یو حیاتي غړي د بایللو ښکاره ګواښ موجود وي. په دې حالت کې رخصت لازم او په موقتي ډول د منع شویو شیانو او اعمالو اجازه ده ترڅو د شخص ژوند وژغورل شي.

۲. متوسط اندازه

په دغه حالت ژوند ګواښونکی نه دی خو تکلیف یا سختي د ژوند له عادي او ورځینو تکلیفونو څخه زیات وي. د دې ډول تکلیف پر وخت شخص اختیار لري ترڅو حرام کار، یا حرام شیان د ځانګړو شرایطو لاندې ترسره کړي او یا د ناروغۍ سره مبارزه وکړي د رخصت په دې اندازه کې د یو عمل اجازه نشته یعني حرام شیانو استعمال ته اجازه نشته .

۳. ټیټه یا کمه اندازه

د تکلیف ټیټه درجه هغه ده چې انسان ورسره په ورځیني ډول مخامخ کېږي مګر ډېر زیات تاوان نه رسوي؛ په دې ډول کې د رخصت اجازه نشته.

د سختۍ یا لوړ تکلیف اندازه یې د ضرورت او منځنۍ اندازه یې د حاجت لاندې طبقه بندي شوې ده. په دغه طبقه بندي ځان پوهول اړین دي، ځکه چې د ضرورت په حالت کې د حرامو اعمالو ترسره کول یا حرام شیانو استعمال جواز نشته د حاجت په حالت کې اختیار لرى خود حرامو شیانو استعمال جواز نلري پداسې حال کې چې اضعري حالت کې بیا د رخصت اجازه نشته .

**د سختۍ د له منځه وړلو اصول**

۱- ضرر نه رسول : ځان او نور ته ضرر مه رسوئ.

لا ضرر ولا ضرار (الموطأ للإمام مالك بن أنس)

دا د رسول الله صلى الله علیه وسلم د حدیث یوه برخه ده چې د ډیرو نورو قواعدو اساس جوړوي.

۲- ضرر او سختي لرې کول : ضرر باید لرې شي.

الضَّرَرُ يُزَالُ (الأشباه والنظائر لابن نجيم المصرى)

۳- سختي او مشقت آساني راولي.

المَشَقَّةُ تَجلِبُ التَّيسِيرَ (الأشباه والنظائر لابن نجيم المصرى)

۴- زیات ضرر په کم ضرر سره له منځه وړل .

الضَّرَرُ الأَشَدُّ يُزَالُ بِالضَّرَرِ الأَخَفُّ (شرح القواعد الفقهية لأحمد الزرقا)

۵- یو ضرر د مساوي ضرر په واسطه لرې کیدى نشي.

الضَّرَرُ لَا يُزَالُ بِمِثْلِهِ (الأشباه والنظائر لابن نجيم المصرى)

٦- اړتیا د حرامو شیانو د استعمال اجازه ورکوي ( التحبير شرح التحرير فى أصول الفقه لعلى المرداوي)

الضَّرُورَاتُ تُبِيحُ المَحْظُورَاتِ

۷- د منع شویو کارونو اجازه د اړتیا په صورت ( او ځانګړی وخت) پورې محدوده ده.

الضَّرُورَاتُ تُقَدَّرُ بِقَدَرِهَا (شرح القواعد الفقهية لأحمد الزرقا)

۸- هرکله چې د يو عذر په واسطه اجازه ورکړل شوه، نو چې عذر ختم شو، اجازه هم ختمه شوه.

مَا جَازَ لِعُذْرٍ بَطَلَ بِزَوَالِهِ (الأشباه والنظائر لابن نجيم المصرى)

۹- په (مطلق) اړتيا کې ټول حرام شيان جواز لري.

جَمِيعُ الْمُحَرَّمَاتِ تُبَاحُ بِالضَّرُورَةِ (العزيز شرح الوجيز المعروف بالشرح الكبير للإمام القزويني)

۱۰- د ضرر لرې به په ګټو باندې لومړيتوب ولري. (د مصالحو انتخاب پرځای د ضرر له منځه وړل غوره دي.)

درء المفاسد أُولَى مِنْ جَلْبِ المَصَالِحِ (الأشباه والنظائر لجلال الدين السيوطى)

۱۱- اوږد مهاله رواجونه( عاداتونه) د اوامرو اساس جوړوي.

العَادَةُ مُحَكَمَةٌ (الأشباه والنظائر لابن نجيم المصرى)

## رخصت

### د رخصت پېژندنه

رخصت د ضرورت له مخې په خاصو وختونو کې په موقتي ډول د حرام او منع شويو شيانو د استعمال يا اعمالو د ترسره کولو اجازې ته وايي؛ چې د انسانانو د ښېګڼې سبب ګرځي.

### د رخصت هدف:

د رخصت مقصد د لوړو ديني مقاصدو لکه (دين ،عقل، ژوند شتمني او صحت) ساتل دي.

د هغه اعمالو طبقه بندي چې رخصت ته اجازه ورکوي:

څرنګه چې د انسانانو اعمال مختلف ډولونه لري له همدې امله رخصت هغه په دريو برخو وېشل شوي.

- کله چې د ژوند یا د بدن د یوه حیاتي غړي د له منځه تللو ګواښ موجود وي دغه وخت رخصت یو واضح او څرګند استطباب دی چې ضرورت ورته ویل کېږي په دې حالت کې فقهاؤ رخصت لازم ګرځولی چې عموماً ورته په فقهه کې د اضطرار کلمه استعمالېږي.
- هغه اعمال چې د ستونزو لامل کېږي: په دې حالت کې له عادي حالت څخه سختي زیاته وي، مګر په هغه حالت کې سختي نه وي چې د بدن د کوم حیاتي غړي یا د انسان د ژوند بایللو ګواښ په کې موجود وي.
- توصیه شوي اعمال:

هغه اعمال چې خطر په کې لږ او یا هیڅ نه وي په دې کې رخصت جواز نلري دي ډول اعمالو ته تسحینات وایي.

**په فقهه کې د رخصت غوښتلو اصول:**

د رخصت اخیستلو لپاره چې د سختي پرمهال په خاصو وختونو او خاصو لارو اخیستل کېږي د دې د تطبیق لپاره په اسلامي فقهه کې اساسي اصول موجود دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

- دا یوه استثناءده، عمومي قاعده نه ده:

رخصت په یو خاص حالت پورې اړه لري او د نورو اعمالو د پېژندلي په توګه ترې کار نه اخیستل کېږي.

- فیصله باید د هغه حالت مطابق وي: د ضرورت د جواز لپاره باید هر حالت او موضوع په جدا ډول تر څېړنې لاندې ونیول شي.
- د رخصت اندازه: د ضرورت په اندازې پورې اړه لري.
- د جواز حدود: چې د رخصت په ډول پورې اړه لري.
- د رخصت لپاره اجازات باید په موجوده حقیقي حالت پورې اړه ولري نوه په راتلونکي تخمیني حالت پورې.
- یوازې هغه کسان رخصت ورکولی شي چې د اسلامي اصولو څخه پوهه او فهم ولري که چیرې په دې برخه کې معلومات ونلري نو د بل چا څخه دې پوښتنه وکړي.

ژباړه: يعني له هغه چا څخه پوښتنه وکړئ چې پوهه لرونکي وي کله چې په څه نه پوهيدئ .

- دا رخصت د سختۍ لرې کولو لپاره دی د خوند اخيستو لپاره نه دی.
- رخصت ورکول د اسلام له لارښوونو سره سم منل شوی عمل دی چې ګناه او ناجايز عمل نه دی.
- د انتخاب حق لرل چې زياتره د سختۍ په دوهم ډول کې واقع کېږي،
- د محدود وخت لپاره وي: رخصت کله چې هغه مشخص حالت له منځه لاړ شي نو رخصت پخپله له منځه ځي بايد دوام ورنکړل شي.
- رخصت هغه وخت تطبيقېږي چې بل بديل ونلري، هر هغه حالت کې چې د حلالو يو په بل شتون ولري نو بيا د هغه بل په مقابل کې د حرام شي په عمل کول جواز نلري.

## حلال، حرام او مشتبهات

د رخصت د ورکولو لپاره د حرامو حلالو او منشبهاتو پيژندل ضرورت وي حرام هر هغه څه چې الله (ج) حرام کړي او حلال هغه څه چې د الله (ج) حلال کړي او منشبهات هغه دي چې د هغه په اړه واضح څه نه وي ويل شوي د الله (ج) او د هغه رسول (ص) د ټولو انسانانو لپاره اساني کړې ده او هر څه يې بيان کړي دي.

حضرت نبي کريم (ص) فرمايلي دي:

عن النبيِّ صلى الله عليه وسلم قالَ مَا أَحَلَّ اللَّهُ فِي كِتابِهِ فَهُوَحَلالٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرامٌ، وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ، فَاقْبَلُوا مِنَ اللَّهِ عَافِيَتَهُ، فَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُنْ لِيَنْسَى شَيْئًا (البيهقى، مستدرك حكيم)

ترجمه: کوم څه چې الله ج پخپل کتاب کې حلال کړي هغه حلال دي کوم څه چې يې حرام کړي هغه حرام دي او د کوم څه په اړه يې چې ندی ويل شوي ( چپ شوي) هغه معاف دي نو د الله (ج) ښښنه (عافيت ) قبول کړئ ځکه الله (ج) د څه شي هيروونکی نه دی.

لکه څرنګه چې الله (ج) په قران کريم کې داسې فرمايلي دي:

وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا (مريم-٦٤)

ترجمه: او ستا رب هېرونکی نه دی.

عَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ النُّعْمَانِ بْنِ بِشِيْرٍ رضی الله عنهما قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَقُوْلُ إِنَّ الحلالَ بيِّنٌ وإنَّ الحرامَ بيِّنٌ وبينَهُمَا أُمُوْرٌ مُشْتبِهات لا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيْرٌ مِنَ النَّاس، فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ فَقَدِ اسْتَبْرأَ لِدِيْنِهِ وعِرْضِه، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الحَرَامِ كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الحِمَى يُوشِكُ أَنْ يَقَعَ فِيْهِ أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمَىً أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ، أَلَا وإِنَّ فِي الجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ وإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ القَلْبُ (بخاری، مسلم)

همدارنګه د عبدالله النعمان بن بشیر رض روایت دی، چې د نبي کریم (ص) څخه مې واورېدل چې يې وفرمايل.

حلال واضح دي او حرام هم واضح ( څرګند) دي، د دوی په منځ کې مشتبهات دي چا چې له مشتبهاتو ځان وساته نو الله (ج) به يې دين او عزت وساتي او څوک چې په مشتبهاتو کې واقع شي نو هغه په حرامو کې واقع کېږي.

چې مثال يې هغه شپون ته ورته دی چې خپل رمه د بادشاه حمې ته نږدې څروي (حمه هغه ساحه يا باغ چې هلته صرف د بادشاه څاروي څري؛ نور حيوانات نشي ورتلی ) خبردار چې هر بادشاه لره حمي وي او د الله (ج) حمې محارم دي او خبردار چې په جسد کې يوه د غوښې ټوټه ده که چيرته صالحه وي نو ټول وجود به صالح وي او که چيرته فاسده شي نو ټول وجود فاسدوي او دا ټوټه زړه دی.

همدارنګه ډېری وخت چې کله له کومې فيصلې د کولو سره مخ کېږي نو د هغې موضوع اړوند بايد پوره پوهه او معلومات ولري ډاکټر بايد تقوا ولري او له خپل زړه څخه پوښتنه وکړي چې دغه فيصله قانع کوونکې ده او کنه؟

وابصته بن معبه (رض) فرمايي چې نبي کريم (ص) راته وفرمايل:

عَنْ وَابِصَةَ بْنَ مَعْبَدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم قَالَ لَهُ جِئْتَ تَسْأَلُنِي الْبِرِّ وَالْإِثْمِ فَقَالَ نَعَمْ فَجَمَعَ أَنَامِلَهُ فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِهِنَّ فِي صَدْرِي وَيَقُولُ يَا وَابِصَةُ اسْتَفْتِ قَلْبَكَ

وَاسْتَفْتِ نَفْسَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ الْبِرُّ مَا اطْمَأَنَّتْ إِلَيْهِ النَّفْسُ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي النَّفْسِ وَتَرَدَّدَ فِي الصَّدْرِ وَإِنْ أَفْتَاكَ النَّاسُ وَأَفْتَوْكَ (مسند احمد)

ترجمه! وابصته بن معبه (رض) فرمايي چې نبي کريم (ص) راته وفرمايل ايا راغلی يې چې د نيکی او گناه په باره کې پوښتنه وکړې؟ وايي چې ما ورته وويل چې هو؛ نو نبي کريم (ص) خپلې گوتې مبارکې را ټولې کړې او زما سينه يې پرې ووهله او راته يې وفرمايل اې وابصه د خپل زړه نه فتوا وغواړه د خپل ځان فتوا وغواړه او درې وارې يې دغه کلمات تکرار کړل او ويې فرمايل نيکي هغه ده چې په هغه سره ستا نفس مطمئين شي او گناه هغه ده چې تاته په سينه کې شک در واچوي اگر که خلک تاته فتوا درکړي.

نو له دې څخه معلومېږي چې اساسي فکتور د خپل ځان او زړه فيصله ده په ځينو مشخصو حالاتو او يا د رخصت په حالاتو کې که چېرې خپله پرېکړه نشئ کولی نو له ډاکټر څخه مرسته وغواړئ.

د ډاکټر اړوند مهمه خبره داده چې بايد داسې څوک چې اسلامي پوهه او معلومات ولري او د رخصت اړوند فيصله کولی شي؛ نه دا چې يو گناهگار او د اسلام څخه ناخبره شخص وي.

د رخصت اړوند له پورته تشريح سره سم په لاندې توگه ځينې مثالونه راوړو:

- د ناجايزو شيانو اړوند لکه الکول، جلاتين او يا نور حرام شيان.
- د غړو تعويض لکه د انسان حيوان يا مصنوعي غړي.
- د مخالف جنس فزيکي معاينه کول.
- د ناروغ اړوند د لمانځه، اودس او طهارت اړوند مسايل. همدارنگه ډېر نور مسايل لکه د سقط جنين يا تحقيق، طبي عملي زده کړو او نور اړوند چې بايد د اسلامي لارښوونو سره سم ترسره شي.

## په اسلامي روغتون کې د عباداتو ترسره کول

عبادت یو ډېر جامع مفهوم دي چې د انساني تحلیق سپیڅلي هدف او مقصد احاطه کوي.

الله ج په خپل عظیم کتاب قران کریم کې فرمایي:

(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ) الذاریات-٥٦

ترجمه: ما انسانان او پیریان ندي پیدا کړي مگرپیدا کړی مې دي د خپل عبادت لپاره.

عبادت الله (ج) ته د ژوند په ټولو شیبو کې هغه که شپه وي اوکه ورځ، صحت وي یا ناروغي په مکمل ډول د طاعت او وفادارۍ د سعي او تلاش څخه عبارت دی.

عبادت یوازې د اسلام په (٥) بناؤ پورې منحصر نه دی، بلکې هره کړنه چه په اخلاص او صادقت سره د الله (ج) لپاره ترسره شي عبادت گڼل کېږي.

## ځینې عام (عمومي) غلط تصورات( خیالونه )

زیاتره ناروغان او یا د دوی د کورنۍ غړي دا غلط فهمي لري او فکر کوي چې کله چې دوی په روغتون کې بستر کېږي نو د عبادت له ترسره کولو څخه معاف وي. په خاصه توگه له لمونځ کولو څخه، همدارنگه د روغتیا د برخې ډېری کارکوونکي لکه ډاکتران او نرسان هم همدا غلط تصور لري چې د دوی دنده یوازې تر طبي خدماتو پورې محدوده ده او ورته ناسم ذهنیت د روغتونو د مختلفو کچو تر کارمندانو آن د روغتون تر رئیسه پورې موجوده ده چې په ترتیب سره دغه غلط فهمي باید د تعلیم تربیت اداري فیصلو او په جامع او کلي ډول د اسلام په زده کولو سره اصطلاح کړو.

## د روغتونونو اداري مکلفیتونه

ټول اداري کارکوونکي چې په هره کچه مسؤلیت لري باید په روغتون کې د عبادت په کولو خپل تعهد او ژمنتیا وښیي چې دغه عمل یا کړنه پخپله عبادت دی.

او دې ته قوي متعهد واوسي چې اسلام د ټولو انسانانو لپاره رحمت دی.

او د روغتیا د برخې هر کارکوونکی باید له پروسیجر مخکې، اخلاص، دیانت، تقوا او د احسان اصول په نظر کې ونیسي، چې دغه پروسه په لاندې ټکو مشتمله ده:

- د ټولو کارکوونکي لپاره د عباداتو اړوند د عملیاتي کړنلارو رامنځته کول

د عباداتو د ترسره کولو څارنه، د ناروغانو اړوند کړنې او هدایات او همدارنگه د ناروغانو د کورنیو غړو او مراجعه کوونکو اړوند هدایات باید په انفرادي قضاوت پورې محدود نشي بلکې د دې لپاره باید یو ورځنۍ جامع معیاري ټولگه یا طرزالعمل، چې په ټولو کارکوونکو د تطبیق وړ وي، ترتیب شي چې تطبیق او تعقیب په خاطر په یو چوکاټ د(تابلو) کې ترتیب چې ټول یې د لارښود د منبع یا مرجع په توگه استفاده کړي چې ددې لپاره اداره شاید د اسلامي شریعت متخصصینو ته اړتیا پیدا کړي.

- د طبي کارکوونکو او اداري کارمندانو د انتخاب تربیت، هڅونې او ظرفیت لوړول لپاره د ځان سره ورځنۍ محاسبه کول.
- د ناروغانو لپاره د عبادت ځای، تعلیمي او رهنمایي ابزار د مثال په ډول د ناروغانو پایوازانو او مراجعه کوونکو لپاره د صوتي، بصري، مطالعاتي مواد او د لکچرونه سیمارونه برابرول او همدارنگه د دعا لپاره د وخت مشخص کول.
- د عبادت لپاره امکانات و سهولیتونه. د لاندې سهولتونو برابرول د روغتون د اداري مسؤلیت جوړیږي چې برابر یې کړي:

۱. د لمانځه لپاره د ځای برابرول .
۲. د قبلې جهت.
۳. اذان کوونکی.
٤. د لمانځه لپاره ځانگړي جامې.
۵. جاینماز.
٦. پاک فرش.
۷. د اوداسه، تیمم او د لمانځه لپاره یو کومک کوونکی .

- د مختلفو عباداتو د ترسره کولو د ناروغانو مسلکي ارزيابي کول چې دغه چاره د Sops د لارښوونو مطابق د ناروغانو په مختلفو کتګوريو وېشل چې دوی خپل عبادات لکه، اودس، تيمم او نور پرته له دې چې صحت ته يې کوم زيان ورسيږي سرته ورسوي.

## اودس Ablution

- هغه ناروغان چې خفيف يا په متوسط حالت کې دي درد د ناروغانو شدت او يا د د زخم رغېدو د ځنډولو سبب نه کېږي نو دوی عام يا عادي اودس کولی شي.
- په هغه حالت کې چې اودس کول د ناروغي د شدت او يا د زخم د رغېدو د ځنډ سبب ګرځي نو پدې وخت کې د مطمئينه نتايجو د لاسته راوړلو پخاطر وي طبي کارکوونکي د شدت او وسعت د مخنيوي پخاطر متبادلې لارې چارې ولټوي ځکه چې الله (ج) فرمايي:

﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ النسآء-۲۹

ترجمه! تاسې خپل ځانونه مه وژنئ بېشکه الله (ج) پر تاسو زيات مهربان دی.

- هغه ناروغان چې غير متحرک وي او يا د حرکت وړتيا نلري او يا داسې ځوک نه وي ترڅو د اودس لپاره اوبه برابرې کړي او يا هم د اودس لپاره امکانات موجود نه وي نو په دې وخت کې د تيمم اجازه شته، کولي شئ چې ځمکه، ديوال، خاوره او تيره تيمم اجراء او پرخپل مخ يې راتېر کړي.
- هغه ناروغان چې پخپله تيمم نه شي کولی نو بل څوک دې يې پرې وکړي .
- په هغه حالت کې چې ناروغ نشي کولی پخپله اودس يا تيمم وکړي او نه بل څوک ورسره وي نو په کوم حالت کې چې دی کولی شي خپل عبادت ترسره کړي.

## لمونځ

لمونځ په هر مسلمان نر او ښځه تر ټولو لومړی فرض دی تر هغه وخته چه په مسلمان کې روح او صحت موجود وي.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَتْ بِي بَوَاسِيرُ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ فَقَالَ صَلِّ قَائِماً، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ" (البخاری)

عمران بن حصين ( رض ) فرمايي، چې زه بواسير وم د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه مې د لمانځه اړوند پوښتنه وکړه راته يې وفرمايل، لمونځ په ولاړه وکړه که چيرې نشي يې کولی نو په ناسته يې وکړه او که بيا يې هم توان نلري نو په يو اړخ يې وکړه.

الله (ج) په قران کريم کې داسې فرمايلي دی:

إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا (النسآ ۱۰۳)

ترجمه! بېشکه لمونځ په مؤمنانو باندې په ټاکلو وختونو کې فرض کړل شوی دی.

د لمونځ په انکار او پرېښودو سره انسان بې ايمانه او حتی له اسلام خارجيږي.

عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا، يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ "إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ (مسلم)

لکه جابر (رض )فرمايي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه مې واورېدل چې يې و فرمايل، چه د سړي د شرک او کفر ترمنځ فرق د لمونځ پرېښودل دي.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ" (احمد، ترمذی)

همدارنګه عبدالله بن بريده (رض) د خپل پلار څخه نقل کوي چې نبي کريم (ص) وفرمايل.
زمونږ او د دوی ترمنځ تعهد لمونځ دی چا چې لمونځ پرېښود نو کفر يې وکړ، همدارنګه لمونځ هغه عمل دی چې د قيامت په ورځ به تر ټولو لومړی د لمونځ پوښتنه کېږي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ "أَوَّلُ ما يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الصَّلَاةُ، فَإِنْ صَلُحَتْ صَلُحَ لَهُ سَائِرُ عَمَلِهِ، وَإِنْ فَسَدَتْ فَسَدَ سَائِرُ عَمَلِهِ" (المعجم الاوسط للطبرانی)

د انس بن مالک (رض) څخه روایت دی چې نبي کریم (ص) وفرمایل چې د قیامت په ورځ به له بنده څخه د لمونځ  پوښتنه کېږي که چیرې لمونځ سم یعنی درست و باقي ټول اعمال به یې سالم او صالح وي که چیرې لمونځ  یې فاسد وي نو نور اعمال به یې هم فاسد وي.

أَبَ ُو مُحَمَّدٍ أَشْ ُهَدُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خَمْسُ صَلَوَاتٍ افْتَرَ َضَهُنَّ اللَّهُ عَلَى عِبَادِهِ مِنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَصَلَّتَهُنَّ لِوَ َقْتِهِنَّ فَأَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَسُجُودَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ كَانَ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدٌ أَنْ َ يَغْفِرَ لَهُ وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ َغَفَرَ لَهُ وَإِنْ شَاءَ َعَذَّبَهُ ُ

(مسند احمد)

ابومحمد(رض)  فرمایي:  چه شاهدي ورکوم چې د نبي کریم (ص) څخه مې واورېدل چې یې وفرمایل چې الله (ج) په خپل بنده باندې پنځه لمونځونه فرض کړي دي څوک چه په ښه شان سره اودس وکړي او پخپل وخت لمونځ  وکړي او د هغه رکوع، سجده په خشوع سره مکمله کړي نو د الله (ج) په نزد د ده لپاره دا وعده شوه چې ده ته به ببننه کوي او که چا داسې ونکړل نو د الله (ج) پر وړاندې د ده هیڅ عهد نشته  بیا د الله (ج) خوښه ده چې ببننه ورته کوي او که عذاب ورکوي.

یو طرفه وینو چې لمونځ  د یو مسلمان لپاره څومره اولیت لري چې باید ترسره یې کړي او له بله طرفه زمونږ تقریباً ۷۰ فیصده ناروغ لمونځ  نه کوي چې علت یې د لمانځه د اهمیت او یا د مختلفو ناروغیو پرمهال د لمانځه د ترسره کولو د تسهیل څخه  ناخبري ده.







لکه الله (ج) په خپل کتاب قران کریم کې داسې فرمايي:

...يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ " (البقرة-۱۸۵)

الله (ج) تاسې ته د هر ډول اسانتیاوو اراده لري او نه غواړي چې تاسې په ستونزو کې واچوي.
همدارنگه حضرت نبی کریم (ص) فرمايي:

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم اِذَا اَمَرْتُكُمْ بِاَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ (بخاری، مسلم)

ترجمه ! کله چې زه تاسو ته پر یو څه کولو امر کوم نو څومره موچه له وسه کیږي ترسره یې کړئ.
د لمونځ بل اهمیت دادی چې د صبر رامنځته کولو یو مهمه وسیله ده چې خپله ناروغ او د ناروغ خپلوان ورته اړتیا لري.



همداشان الله (ج) په خپل کتاب قران کریم کې داسې فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ (البقرة-۱۵۳)

ترجمه ! اې هغه کسانو چې ایمان مو راوړي تاسې په صبر او لمونځ سره کمک وغواړي، بېشکه الله (ج) له صابرینو سره دی.
د قران کریم په ایاتو کې صبر په لمانځه سره یاد شوی دی.

د يو اسلامي روغتون اداره بايد دې ته هم اوليت ورکړي تر څو  په روغتون کې د لمونځ  ترسره کول  مروج کړي .
که چيرې تاسې يو نوی روغتون جوړوئ نو جومات او يا د لمانځه  کولو ځای بايد د روغتون په منځ کې جوړ او ډيزاين کړئ؛ ترڅو ناروغان او کارکوونکي په اسانۍ ورته رسيده‌ګي وکړی شي. تشنابونه او د اوداسه ځايونه بايد روغتون ته نږدې وي جومات بايد هميشه صفا وي  د لمانځه  او تلاوت پرته بله استفاده ورڅخه ونه شي داسې نه چې خلک يوازې پکې خوبونه کوي .
پنځه وخت لمونځ  بايد په اذان او اقامت ترسره شي  اذان هم په داسې نرم اواز چې په ټولو وارډونو کې واوريدل شي  لمونځ  بايد د روغتون د نورو ورځنيو کارونو غوندې يو عادت او کلچر وګرځول شي. مثلاً ددې لپاره بايد نرسان ورورزل شي ترڅو ټولو بستر شوي ناروغانو او د  دوې مراجعينو ته په نرمه ژبه  د لمانځه  يادونه وکړي .
د ناروغ په فايل کې په يوه جلا سيټ کې د لمانځه يادونکی Reminder ثبت کړل شي او دا هم بايد په ياد ولرو چې دا بايد په ډېر ادبانه  شکل پرته له کوم جبر او زور څخه وي د سيستم د پايداره ساتلو لپاره د مؤظف ډاکټر دغه  Reminder چې ترسره شوي  دی که نه، څارنه وکړی او مذهبي افسر دې هم د لمانځه د ادايني او د ناروغانو او د هغه د پايوازانو روحي تقوې لپاره ليدنه وکړي، همدارنګه مؤظف ډاکټر د نسخې په صفحه کې دا هم ذکر کړي چې ناروغ د لمونځ کولو وړتيا پيدا کړې ده که نه يعنې لمونځ  يې کړی دی که نه؟
لکه د لمونځ لپاره لاندې جدول

| وخت / ورځ | فجر | ظهر | عصر | مغرب | عشاء | د راجستر له لارې کونټرچک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شنبه | | | | | | |
| يکشنبه | | | | | | |
| دوشنبه | | | | | | |
| سه شنبه | | | | | | |
| چهارشنبه | | | | | | |
| پنجشنبه | | | | | | |
| جمعه | | | | | | |

په هر ښځینه  وارډ کې باید ځانته د لمانځه مشخص ځای او د قبلې معلومولو آله  موجوده وي.

## اودس او تیمم

هغه ناروغان چې تشناب ته د اوداسه لپاره نه شي تلی نو د دوی لپاره په وارد کې د تیمم او اوداسه لپاره مشخصې ترالۍ موجودې وي.





## زوړ عمر او ضعف

د عباداتو د ترسره کولو په اړه په اسلامي لارښوونو کې د احترام، کرامت، انسانیت او د انسانیت ځانګړي  اخلاقي ملاحظات ترتیب شوي دي.

## له ناروغۍ وروسته پړاو

په داسې حالاتو کې د روغتیایي کارکوونکو ځانګړي چلند او رویې ته اړتیا ده. ناروغ او د هغه د کورنۍ غړي باید د ایماني موضوعاتو، د اسلام له نظره د ژوند اختتام او د مرګ په هرومرو راتلو باندې وپوهول شي؛  ځکه د یو طبي مسلکي ډاکټر دا دنده نه ده چې دوی ناروغ  له مرګ څخه راوګرځوي؛ بلکې د امکان ترحده د خپل اخلاص او تجاربو پواسطه د ناروغي د کمولو او ارامولو تداوي کوي.

## د ناروغانو کړاوونه او د طبي کارمندانو چلند

کارمندان باید د رنځ او کړاو په دې مرحلو کې ناروغانو او کورنیو ته د مشورې ورکولو وړتیاوې ترلاسه کړي. د تعامل اقداماتو سربیره، دوی باید د دې وړتیا ولري چې د پام وړ رتبه په نښه کړي.

### مَنْزِلَةُ الصَّبْرِوَ الصَّابِرِينَ صبر    استقامت

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِوَ الصَّلَاةِإِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِينَ (البقرة — ۱۵۳)

ترجمه:  ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړي تاسې په صبر او لمونځ  سره کمک وغواړي، بېشکه الله (ج) له صابرینو سره دی.
الله سبحانه وتعالی په ډېرو آیتونو کې صبر ذکر کړی او له لمانځه سره یې شریک کړی دی. د صبر، استقامت او د الهي حکم منلو ته د الله تعالی د لوی اجر د زیری په بیانولو سره د صبر او تسکین ورکول.

کارمندان باید وړتیا ولري چې د مثبت عقیدې مفکورې او د الله تعالی په وړاندې د دوستانه فکر مفهوم بیان کړي حسن الظن بالله

دا ور او مناسبه ده چې د توبې مفکورې په دې پړاوونو کې د توبې (توبه) په لاره واچول شي او اجل ته ورسیږي. الله تعالی خپلو بندګانو ته د توبې له ځنډولو څخه خبرداری ورکوي.

وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ (الزمر—۵۴)

"خپل رب ته وګرځئ او د هغه (رضا) ته سجده وکړئ مخکې لدې چې تاسو ته عذاب راشي ، بیا به تاسو سره مرسته ونشي."

قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَميعا انه هوالغفور الرحيم

ووایه: اې زما بندګانو چې پر خپلو نفسونو یې تیری کړی دی، د الله له رحمته مه نا امیده کیږئ، ځکه چې الله ټول ګناهونه بخښي، بېشکه هغه بخښونکی او مهربانه دی.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ (البقرة—۲۲۳)

"الله هغه کسان خوښوي چې تل ورته رجوع کوي، او هغه څوک خوښوي چې پاک او سپېځلي وي، الله تعالی د امید او الهي ډاډ دا ډاډمن پیغامونه هغو کسانو ته ورکوي چې د صبر، استقامت او توبه سره توپیر لري، په عمومي توګه، مګر په ځانګړې توګه د ناروغانو لپاره.

مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُها الا كفر الله من خطاياه

"مسلمان ته نه ستړیا، نه ناروغي، نه غم، نه غم، نه درد، نه تکلیف او نه تکلیف رسیږي، که څه هم د اغزیو په څنډه کې وي، مګر الله تعالی د هغه ګناهونه کفاره کوي."

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «مَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ» (ترمذی)

عنت قومي مشرة قالب قالب صليتمن الله علي و کولم مانولي والة فيم عيماء الله ملا عليه خانی)

"مومن په خپل بدن، کورنۍ او مال کې تر هغه وخته پورې په عذاب کې وي چې له الله سبحانه وتعالی سره په داسې حال کې ملاقات وکړي چې له ټولو ګناهونو پاک وي".

## د یو اسلامي روغتون چلول (پرمخ بیول)

ښه خدمات د ښو خلکو پواسطه سره تر مفهوم لاندې FIMA د اسلامي روغتون يې ښه تصوير د مديريت په ټولو اړخونو کې څرګند کړ دا کار يې ددې لپاره وکړ ترڅو ټول کارکوونکي د خپل ارزښت او برترى، صداقت او امانتداري د ترلاسه کولو لپاره کوښښ او تلاش وکړي، چې دغه مفهوم کې لاندې شيان شامل ؤ.

۱) د روغتون د پاليسي او Standard operating Procedure سيستم جوړول چې اعتقادي محوريز ارزښت لري.

۲) د استخدام لپاره د برنامو جوړول ترڅو له همدې لارې هغه کارکوونکي چې د شريعت پابند وي په کار وګمارل شي چې لاندې خواص بايد ولري .

- ددې وړتيا لرل ترڅو د روغتون د لارښود په توګه د مقاصد الشريعه او قواعد الفقهيه په مکمله توګه عملي کړي.
- مناسب اخلاقي لباس اغوستل چې په بشپړ ډول ستر ساتل په کې مراعت شوي وي .

۳) له نورو کارکوونکو سره ښه چلند کولو مهارتونه درلودل.

د ناروغانو او يا د هغه سره د ملاقات کوونکو لپاره د ښه خدمتونو او اسلامي ارزښتونو ترويج کول لکه د سلام اچول او يا دا چې تاسې زمونږ ميلمانه ياست وويل شي.

۴) د رهنمايي او لارښوونې لپاره د يو اسلامي هئيت ايجادول .

۵) د IHC د تطبيق او ارزولو لپاره د خاص شعبې Special Unite منځته راوړل چې د مذهبي مامورينو تر نظارت لاندې وي.

٦) په اسلامي روغتون کې د ناروغانو لپاره د ديني کړنو او زده کړو اسانتيا رامنځته کول؛ د بېلګې په ډول:

- د ناروغانو لپاره د عبادت کتاب چې د پېښاور طبي کالج له لوري چاپ شوى دى.
- د عباداتو لپاره د ټولو امکاناتو لکه د قبلې ښوونې آله، د تيمم لپاره خاوره، قرانکريم د لمانځه لپاره جامې، د لمانځه لپاره جاينماز او د لمانځه لاره او نور څه برابرول.

۳) د حمل ولادت او د ښځو اړوند نور موضوعات لپاره لارښوونې

٤) ناروغ ته د لمونځ، روژې او نورو موضوعاتو اړوند معلوماتو تهیه کول.

٥) ناروغ د مړینې پر مهال د هغه کورنۍ ته تسلیت ویل او د جنازې په لېږ کې ورسره مرسته کول.

٦) کله چې ناروغ په روغتون کې تر تداوي لاندې وي د روژې نیولو پر وخت د هغه خدمت کول .

۷) هره ورځ د سهار په ۸ اتو بجو او د شپې نهه بجو په دعا اختمام کول.

۸) د IHC پروګرام د تطبیق لپاره صوتي او ویډیویي سیستم فعالول، چې لاندې شیان په برکې نیسي:

- تلویزوني مناسب او منظم پروګرام.
- د نشر لپاره ضرور شیان لکه (عمومي د نشرولو سیستم) د IHC پروګرامونو تطبیق لکه اسلامي لکچرونه، تلاوت، دعاګانې، اذان د لمانځه وختونه او نور دغه سیستم باید په ډېر حکمت سره ترتیب شي او د روغتون د ادارې لخوا رهبري شي.

۹) د کارکوونکو لپاره تشویقي او تعلیمي پروګرامونه برابرول؛ لکه:

- د تشویق لپاره کمپ جوړول (مسایل)
- قراني حلقې جوړول د مطالعې او زده کړې لپاره .
- د مطالعې لپاره سفرونه

۱۰) اسلامي ټولنیز مسؤلیتونه

اسلامي روغتون خپل کارکوونکي دې ته هڅوي چې د مختلفو خیریه ادارو سره خپل مهارتونه ، تجربې او دوی سره په مختلفو ټولنیزو فعالیتونو په ترسره کولو کې خپله انرژي مصرف کړي.

۱۱) د کارمندانو د ماشومانو لپاره د Day Care Center برابرول.

## د روغتون کلچر ځانګړتیاوې

Reception د معلوماتو خونه د روغتون لکه د مخ ښکلا تشکیلوي باید صاف ستره وي، د رسپښن کارمند باید تعلیم یافته او همدې دندې لپاره روزل شوي وي، منظم لباس یې پر تن وي، د ناروغانو سره د مخامخ کېدو پر مهال له هغوی سره په ورین تندي روغبړ وکړي او لازمه همکاري ورسره وکړي.

ناروغ د بستر کېدو د پیسو د ورکړې په اصولو او ضوابطو پوه کړي او په راتلونکي کې د هر ډول اختلاف څخه د مخنیوي پخاطر ورڅخه لاسلیک واخلي.

مربوطه کارکوونکي باید د ناروغ د رخصت کېدو پرمهال په ارامۍ سره د پیسو د حصولۍ او د ناروغ کېدو پرمهال د روغتون پالیسۍ په اړه ناروغ ته توضیحات ورکړي. د ناروغ ټول ریکارډ باید په جدي ډول سره محرم وساتل شي. همدارنګه د نوي ناروغ د بستر کېدو پر مهال سره د وارډ کاروکوونکي خبر کړی ترڅو دوی خپله اماده ګي ونیسي او د وارډ کارکوونکي د ناروغ سره په وارډ کي د بستر کېدو پر مهال مرسته وکړي.

۲) د سلام او تبسمم(ورین تندي) دود او کلتور

د روغتون ټول کارکوونکي په داسې ډول روزل چې د سلام او تبسم دود کړي نو له همدې امله اسلام د سلام اچولو ډېر ټینګار کړي دی.

کله چې یو شخص یو چاته سلام اچوي (السلامعلیکم ورحمة الله ) او پخپله څهره باندې تبسم راولي نو مقابل شخص داسې ګڼې چې ګویا دا شخص زما ملګری دی او د الله (ج) څخه راته سلامتیا غواړي او په روغتون کې دا کړنه دا پیغام ورکوي چې ګویا ناروغ زموږ میلمه دی او دهغه ښه پالنه کېږي چې باید هیڅ تشویش ونه کړي.

زموږ په دین کې سلام او په ورین تندي مخامخ کېدل صدقه ګڼل شوې ده.

نبي کريم (ص) فرمايي:

كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ وَإِنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلِيْقٍ وَأَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِي اناءِ أَخِيكَ

(ترمذی)

ترجمه! هره نيکي صدقه ده او له نيکۍ يوه دا هم ده چې د خپل مسلمان ورور سره په ورين تندي مخامخ شې.

که چيرې د روغتون ټول کارکوونکي، ناروغ، مراجعين د سلام په ويلو په ورين تندي مخامخ کېدو سره مخامخ شي نو پدې سره به د روغتون دود او دستور بدل او په دې ډول سره به دناروغ تشويش لرې او د هغه د علاج امکان به برابر شي.

۳) د پاکوالي يا طهارت دود او کلتور

طهارت او نظافت په اسلام کې ډېر لوړ مفهوم لرى او ډېر ټينګار پرې شوي لکه په حديث کې چې ورته اشاره شوي:

الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ

ترجمه! پاکي يا طهارت د ايمان يوه برخه ده .

پاکي بايد د اسلامي روغتون له لومړيتوبونو څخه وي او روغتون بايد همېشه صاف ستره وي هيڅ يو لحظه هم بايد چټلۍ ته موقعه ورنکړل شي ددې مقصد لپاره بايد مناسبه بوديجه او همدارنګه کافي اندازه کارمندان موجود وي د صفايي کارکوونکي بايد پاک او صاف لباس واغوندي، عصري د پاکۍ وسايل په واک کې ورکړل شي او ښايسته کثافت داني بايد کېښودل شي په عمليات خونه او ولادت خونه کې د انسان د بېکاره برخو لپاره بايد ځانګې کثافت دانۍ موجودې وي.

## دیوه مسلمان ډاکټر طبي اخلاق

اسلام د ډاکټرانو لپاره د توحید لاندې جامع اصول او لارښوونې لري مانا دا چې یو مسلمان ډاکټر خپله دنده یو مسلک نه؛ بلکې یوه دیني وجیبه ګڼي. صحت په اسلام کې له جسمي، روحي او فزیکي اړخه یو جامع مفهوم لري چې له همدې امله اسلام د ښه صحت او ښه ژوند د کیفیت پر لوړولو ټینګار کړی دی، له مرضه جوړېدنې څخه مقصد صرف د ژوند اوږدول نه دي؛ بلکې هدف باید داوي ترڅو په ښه ډول سره د الله (ج) عبادات تر سره کړم.

یو مسلمان مسلکي ډاکټر لاندې نقطې باید په پام کې ونسي:

۱) د خود مختارۍ اصل ( د ناروغ حق) ناروغ حق لري ترڅو د خپلې ناروغۍ د تداوي اړوند پخپله تصمیم ونیسي خو صرف په هغه وخت کې چې ناروغ ماشوم یا لیونی وي دا اصل له منځه ځي.

۲) د ښو کارونو د کولو او د بدو کارونو د پرېښودلو اصل لکه څرګند چې په مقاصد الشریعه کې تشریح شوي دي.

۳) د تداوي پرمهال د عدالت او انصاف اصل د مذهب او ټولنیز ژوند څخه پرته په پام کې نیول .

۴) د احسان اصل دا چې هدف باید یوازې ناروغ ته ګټه رسول وي.

۵) د محرومیت د ساتل کېدو اصل.

٦) د ناروغ په وړاندې د ربښتینولۍ، صداقت او اعتماد اصل .

۷) ناروغ ته د واضح معلومات د ورکړې اصل.

د یوه مسلمان ډاکټر ځانګړتیاوې

د مسلکي مهارتونو ترڅنګ یو ډاکټر باید لاندې توحید محوره اصول او خواص هم ولري:

۱) قوي عقيده درلودل : د روغتيايي کارمند لپاره قوي ايمان لرل له دوو اړخونو د مسلکليتوب د زياتوالي سبب ګرځي:

- د جامع طبي زده کړو تشويق.
- په يوه ډاکټر کې د خواخوږی زياتوالی.

۲) تقوی: هر تقوی دار ډاکټر خپله دنده د يو امانت په ډول ترسره کوي ځکه چې امانت او مسؤليت عبادت ګڼي ترڅو د الله (ج) رضاء حاصله کړي.

۳) اخلاق حسنه : يو طبي کارمند چې د دندې پرمهال اخلاق حسنه ولري، نو دا د ښې تداوی په برخه کې مرسته کوي.

۴) اتقان العمل (مسلکيتوب) :

د دوامداره مهارتونو او پوهې لوړوالي لپاره طبي ډاکټر ته مسلکيتوب ډېر اړين دی او دغه چارې د ښه خدمت سبب ګرځي.

۵) احسان: هغه طبي ډاکتران چې هميشه الله (ج) په ياد لري او خپلې دندې په اخلاص او صداقت سره ترسره کوي، دغه کړنې يا چارې ترسره کوي.

٦) امانت (اعتماد) ټول طبي ډاکتران بايد خپلې دندې په ايمان او صداقت سره ترسره کړي ترڅو خپل کار په ښه کيفيت سره سرته ورسوي.

۷)محاسبه: يو طبي ډاکتر په هره چاره او کړنه کې بايد خپل ځان وارزوي انتقاد او وړانديزونه قبول کړي ترڅو د الله (ج) رضاء او خوشالي ترلاسه کړي.

## د اسلامي روغتون ډاکټران

د یوه روغتون ډاکټر چې یو کلیدي شخص وي د خپل ظرفیت مطابق د یو مشر یا لارښود حیثیت لري او پخپل ټیم کې باید یوه نمونه واوسي.



٢) د یو ډاکټر لپاره تر ټولو مهمه قاعده داده چې باید له ناروغ یا د هغه دله مراجعینو او ملاقات کوونکو سره په ښه رویه مخامخ شي، خبرې يې نرم، مهربان او مشفق وي.
الله (ج) په قران کریم کې داسې فرمایلي دی:

﴿وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا﴾ البقرة - ٨٣

تر جمه ! د خلکو سره په ښه ډول خبرې کوئ.
همدارنګه نبي کریم (ص) فرمایلي دي:

الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ (مسلم)

ترجمه ! نیکه خبره هم صدقه ده
٣) یو مسلمان ډاکټر باید هیڅکله هم تکبر اوغرور ونه کړي؛ ځکه چې تکبر او غرور د اسلام او مسلک د نورمونو او اصولو خلاف کار دی.
لکه څرنګه چې الله (ج) په خپل کتاب قران کریم کې داسې فرمایلي دي

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ (لقمان-۱۸)

ترجمه! خلکو ته په تکبر سره مخونه مه اړوئ په ځمکه کې په تکبر او غرور سره مه گرځئ؛ بېشکه الله (ج) کبر کوونکي نه خوښوي.

د جابر (رض) څخه روایت دی چې نبي کریم (ص) فرمایلی دي:

عَنْ جَابِرٍ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُمَكِّنُكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِطْعَامُ الطَّعَامِ، وَطِيبُ الْكَلَامِ (المعجم الاوسط للطبراني)

ترجمه ! له جابر رض څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښې خبرې کول او خلکو ته طعام ورکول ستاسو د جنت ضامن دي.

۴) د دې لپاره چې شته پوهه د ډاکټرانو لوړه او ثابته پاتې شي نو باید هره میاشت د ډاکټرانو لپاره د Clinico Pathological کنفرانس جوړ او د ټولو شعبو ډاکټران پکې برخه واخلي.

۵) ډاکټر باید په مسلکي لحاظ قابل وي او کوښښ وکړي ترڅو دقیق تشخیص ته ځان ورسوي.

٦)د ټولو شعبو کړنې باید په منظم انټروال کې ترسره شي ترڅو وکتل شي چې لنډه موده کې کوم ښه والي یا پرمختگ منځ ته راځي او یا دا چې د سیستم په بهبود فکر وشي لکه چې فرمايي:

(وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا)سورة طٰه-۱۱۴

ترجمه! اې ربه ! زما علم زيات کړه .

جناب حضرت نبي کريم (ص) فرمايلی دي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَن يَشْبَعَ الْمُؤمِنُ مِن خَيرٍ يِسمَعُهُ حَتَّى يَكُونَ مُنتَهَاهُ الجَنَّةُ (رواه ترمذی)

ترجمه ! يو مسلمان د پوهې په ترلاسه کولو نه مړيږي هغه تر مرگه ترلاسه کوي ترڅو جنت ته داخل شي (انگليسي معنا).

يو مؤمن نه مړيږي له خيرنه (يعنې د خير خبرو نه) چې دی يې اوري تر دې چې دا د خير خبرې دي ورسوي جنت ته (حديث لفظي معنا)

نو له همدې وجهې څخه د يو مؤمن ډاکټر لپاره په دوامداره ډول مسلکي زده کړې يو هدف دی چې بايد سرته يې ورسوي.

۷) څرنګه چې د اسلام دين يو مکمل دين او په پوره توګه سره د غاړه ايښودلو په معنا سره دى نو له همدې امله نظم او دسيپلين د دې برخې يو اساس دى چه وخت پېژندنه بيا په مستقيم ډول سره د دسپلين انعکاس دى (يعنې که وخت پېژندنه او پابندي نه وي نو دسيپلين او نظم خرابېږي) يو مسلمان ډاکټر د مربوطه انستيتيوټ ټول قواعد او اصول بايد په ليکلي او شفاهي ډول سره ومني او دا بايد د مالک او کارمند ترمنځ د ژمنتيا يوه برخه وي، هر هغه څوک چې اصول او قواعد نه مني او د وخت پېژندنه او پابندي نه کوي خپل حلال رزق په حرام بدلوي
د ابو هريرة رض څخه روايت دى چې نبي کريم (ص) فرمايلي دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلىَّ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يُؤْذِينِى ابْنُ آدَمَ يَقُولُ يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَلَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَإِنِّ أَنَا الدَّهْرُ أُقَلِّبُ لَيْلَهُ وَنَهَارَهُ فَإِذَا شِئْتُ قَبَضْتُهُمَا مسلم)

ترجمه! چې الله (ج) فرمايي: بني ادم ماته ضرر رسوي پدې چې دى زماني ته بد رد وايي نو يو له تاسې دې هم زمانې ته بد رد نه وايي ځکه چې زه زمانه يم( د زمانې خاوند يم) چې شپه په ورځ اړوم او کله چې خوښه مې شي دواړه به ختم کړم.

## په اسلامي روغتون کې د نرسينګ کارکوونکي

څرنګه چې په هر روغتون کې نرسان د روغتون يوه مسلکي برخه تشکيلوي نو يو مسلمان نرس بايد پدې پوهه شي چې دا دنده دده يوه اسلامي وجيبه ده، نو له همدې امله د يوې اسلامي ټولنې په روغتون کې د نرسنګ شعبه بايد داسې موخې تعقيب کړي ترڅو د نرسنګ د مسلکي برخې په لا پياوتيا او موثريت کې مرسته وکړي چې همدا موخې د روغتون د هدف او مقصد سره موازي او برابرې وي.
چې ځينې يې په لاندې ډول دي:
۱) روغتون بايد داسې جامع د نرسنګ خدمات وړاندې کړي چې شريعت سره سم او موافق وي؛ لکه د ناروغ روحي، عقلي، رواني او فزيکي خيال ساتنه.
۲) دې لپاره چې غوره مسلکي خدمات ترسره شي نرسان بايد په لوړه کچه صداقت او اخلاص ولري.
۳) روغتون بايد د نرسانو لپاره هدايات او داسې لارې چارې ترسره کړي چې له يوې خوا د دوى حمايت وکړي او له بلې خوا د دوى د زده کړو او براکتيس د ښه والي سبب وګرځي

## په روغتون کې د مسلمان نرس رول

د یو مسلمان نرس رول دادی ترڅو پخپله مسلکي برخه کې اسلامي ارزښتونه پلي کړي ترڅو له یوې خوا ناروغ او له بلې خوا خپل ځان الله (ج) ته نیږدې او د الله (ج) رضامندي حاصله کړي.

په یوه روغتون کې هر نرس ټولو ورځینو کړنو پرمهال باید د اسلامي ارزښتونو په تطبقولو سره ښه خدمات ترسره کړي؛ لکه د مثال په ډول:

۱) مسلمان نرس باید په روغتون کې د ټولو ناروغانو او د هغوی له ملاقات کوونکو سره په ورین تندي سترې مشي او سلام وکړي.

۲) په وارډ کې د ناروغانو سره د قبلې د نښې آله، جاینماز او د تیمم لپاره د خاورې په برابرولو کې مرسته وکړي.

۳) کله چې ناروغان په روغتون کې بستر وي له هغو سره د لمانځه په کولو کې مرسته وکړي، چې ناروغان په مختلفو طبقو سره وېشل شوي دي.




- وړتیا لرونکي ناروغان: هغه ناروغان چې د لمونځ کولو توان لري خو یوازې د لمانځه پرمهال کمې اندازه مرستې ته اړتیا لري.

- هغه ناروغان چې وړتیا لري مخکې له دې چې جراحي عملیات یې وشي باید تشویق شي ترڅو په جماعت سره لمونځ اداء کړي.
- ضعیف ناروغان هغه ناروغان چې د دوی سره باید د اوداسه او لمانځه اداء کولو پر مهال مرسته او همکاري وشي.

۴) له روحي اړخه د ناروغ ارزونه او په نرسینګ فورم کې یې ریکارډ کول؛ کله چې ناروغ په خپل وخت لمونځ کوي دده دا کړنه په مربوطه خانه کې په نښه کول او دا ریکارډ بل د نرسنګ سیفټ ته رسول.

۵) کله چې ناروغان په روغتون کې بستر وي د هغه د خدمت او شان وقار د ساتلو څخه د لاندې کړنو پواسطه ځان باوري کول .

- د ښځینه ناروغانو اړوند وارډ څخه ځان په داسې ډول باوري کول چې باید دروازه د همېشه لپاره بنده وي.
- نرسانې باید دوی ته له خبر ورکولو پرته هیڅ نارینه او نارینه ډاکټر ته ښځینه وارډ ته د ورتلو اجازه ورنکړي.
- د تداوي پرمهال د نارینه ډاکټر د موجودیت یا راتلو پرمهال ښځینه ناروغانو ته خبر ورکول؛ ترڅو سالم لباس یې اغوستی یا واغوندي.
- ښځینه ناروغان له کوټې یا وارډ څخه بهر د کوم پروسیجر او یا بل تخصصي کلینیک ته د راجع کېدو پرمهال باید مناسب لباس واغوندي.
- نارینه ناروغان هم باید تشویق شي ترڅو مناسب لباس واغوندي.
- په یوه مشترکه کوټه یا اطاق کې چې نور ناروغان هم پکې وي د ملاقات له وخت ختمېدو وروسته مخالف جنس ته اجازه نشته چې د خپل ناروغ سره پاتې شي.

٦) نرسان باید داسې یو منظم پلان جوړ کړي ترڅو خپلې دندې په سیستماتیک او مسئولانه ډول ترسره کړي او د دندې ترڅنګ خپل عبادات خصوصاً لمونځ په ښه شان سره ادا کړي چې ځینو ته یې په لاندې اشاره کوو:

- ناروغ ته د لمونځ د ترسره کولو اړوند نصحیت او د اړتیا پر مهال مرسته ورسره کول .
- خراب شوی پوښاک (جامې او بستره) او مرطوب پانسمانونه باید د لمانځه ته نیږدې وخت کې له ناروغ څخه لرې شي او که ناروغ د لباس بدلولو پر مهال مرستې ته اړتیا ولري نو مرسته دې ورسره وشي.
- تشناب ته د تلو پرمهال د ناروغ د سیروم بندول.



- هغه ناروغان چې Colostomy یا CBC لري د نورمال اشخاصو غوندې لمونځ کولی شي ( هر وخت Bag بدلولو ته ضرورت نلري).
- که چیرې ضرورت شي مذهبي مامور (عالم) ته د نصیحت پخاطر ناروغ لیږل .
- د ناروغ د کوټې د فرش (ځمکې) او کټ د پاکوالي څخه ځان خبرول، ترڅو ناروغ په ارامه سره په کوټه یا کټ لمونځ وکولی شي.

۷) ناروغ ته د پام کولو او د هغه په ساتلو کې د مسلمان نرس رول

د ناروغ رضايت اخيستل او خبرول او د حکومت لخوا د جوړو شويو نرسنګ Care معيارونو او اخلاقو مطابق د ټولو پروسيجر اجرا کول.

- د نرسنګ پروسېجرونو پرمهال له ناروغ او يا د هغه له پايواز څخه اجازه اخيستل، تداوي او پروسېجر اجرا کول بايد په مؤدبانه او مهربانه ډول ترسره شي د ناروغ د ښه کېدو پر مهال هغه ته دعا کول.
- ټول پروسېجرونه په بسم الله شروع کول او په الحمدالله يا ان شاءالله ويلو باندې ختمول.
- د ناروغانو سره صميمانه اړيکه جوړول، دوی ته احترام کول د دوی د اطمنان او باور سبب ګرځي.
- د پروسېجر پر مهال د عورت د پټولو خيال ساتل
- د پروسېجر د اجرا پرمهال د محرم يا د هماغه جنس يو نفر د موجوديت څخه ځان باوري کول.
- د قران کريم تلاوت، ذکر او د عا ته د ناروغ تشويقول .
- د عمومي انستزي يا رګ د لارې د بې هوښۍ ورکولو پرمهال ناروغ ته د کليمې وريادول .
- که چيرې عمليات اوږده وي نو ناروغ ته د جمعه صلاتين (ماسپښين او مازديګر او ماښام) د لمونځونو د يو ځای کولو توصيه کول.

۸) په ولادي وارډ کې د نرس رول

- په ولادي وارډ او زيږون اطاق کې د مور د خدمت او وقار ساتنه او درناوی .
- هغه ښځې چې ولادت يې نه وي ورکړی د هغوی سره د لمانځه کولو پرمهال مرسته کول .
- نوي زيږدلي ماشوم ته د اذان او اقامت کولو پرمهال د پايواز سره مرسته کول .
- د ماشوم د مور سره د ولادت څخه وروسته د غسل کولو پر مهال مرسته کول.

- ماشوم ته د شیدو د ورکړې په اولو مرحلو کې د مور تشویقول او د هغې سره مرسته کول او هغې ته د شیدو د ورکړې د اسلامي لارښوونو او ګټو بیانول.
- د شیدو د ورکړې پرمهال د خاصي برخي پټول .
- د ماشوم د ولادت څخه وروسته مور ته د ماشوم د تولد کارت ورکول.
- د فاجعي د رامنځته کېدو پرمهال د الله د رحمت او رضاء طلب کول.

۹) د د مرګ حاله او هغو ناروغانو پر وړاندې د نرس رول چې وضعیت یې خراب وي

- د الله (ج) یاد ته د ناروغ تشویقول او د هغه په غوږ کې کلمه ویل.
- د لمانځه د وخت پرمهال هغه ته د لمونځه د ادا کولو یاد.
- د ناروغ کورنۍ هڅول ترڅو ناروغ ته کلمه ووایي ( تلقین ورته وکړي).
- د ناروغ کورنۍ غړو ته د قران کریم د تلاوت اجازه ورکول .
- د مذهبي مامور یا عالم موجودیت .

۱۰) د ناروغ د مړینې پر مهال د نرس رول

- د (Last Office ) تغسیل او تکفین (یعني د مړي غسل او کفن کول) پروسېجر په داسې ډول اداره کول ترڅو د مړي وارثان زر تر زره د مړي جنازه پخپله تدفین کړي.
- د قران کریم د ایتونو تلاوت کول .
- د کورنۍ خیال ساتل.

## د اسلامي ټولنې په روغتون کې زده کړیالانو ته تدریس ورکول

### عمومي قواعد:

ټول زده کړلایان او محصلین باید په دې پوه شي چې روغتون یوازې د ناروغانو لپاره VIP ځای دی، د وخت ارزښت باید وپیژني او بې ځایه او عبث یې تېر نکړي



محصلین باید د روغتون قوانین او ضوابت په منظم ډول عملي کړي، زده کړیالان باید د پاکۍ او نظافت خیال وساتي او همیشه پاک او ستره واوسي، د دې ترڅنګ باید په هر ډول حالاتو کې له هر چاسره په ورین تندي مخامخ شي څکه چې نیک چلند او ښه اخلاق د مسلمان نښه ده.

د مخالف جنس سره تعامل باید د اسلام د لارښوونو مطابق وي چې انحراف ورڅخه د منلو وړ نه دی، څرنګه چې لمونځ په ټولو مسلمانانو باندې پخپلو وختونو کې فرض وي نو محصلین هم باید پخپلو وختونو کې د لمانځه پابند واوسي.

## زده کړیالان په ټولګي کې

ټولګی هغه ځای دی  چیرته چې پوهه ترلاسه کېږي نو محصلین باید د خپل زده‌کړیز چاپیریال ساتنه او احترام وکړي، د خپلو ټولګیوالو پر وړاندې باید د ایثار او قرباني جذبه ولري، د ټولګي اصول او د مقابل جنس متقابل درناوی وکړي.

## زدکړیالان (محصلین) د استادانو سره

نبي کریم (ص) د ټول انسانیت لپاره د ښوونکي په توګه رالېږل شوی، استاد ترټولو محترم شخص دی ځکه استادي یو پاک او سپیڅلی مسلک دی، له محصل او زده کړیال دا هیله کېږی  چې د زړه له تله د استاد قدر او درناوی وکړي او استاد هم باید د شاګرد پر وړاندې د شفقت او ترحم ځانګړتیاوې خپلې کړي او د خپل شاګرد ، مسلکي تربیت او وخت ته پاملرنه وکړي. د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ باید د مینې او صمیمیت فضاء موجوده وي.

## زدکړیالان په وارډ او معاینه خانه کې

کله چې یو زده کوونکی وارډ یا معاینه‌خانې ته داخلېږي باید منظم لباس، چې نوم پرې لیکل شوی وي، پر تن کړي، د ناروغ سره باید په ورین تندي مخامخ شي، که چېرې په تدریسي شکل ځي له شور غالمغال او نور خبرو د ډډه وکړي، مخکې لدې چې ښځینه وارډ ته داخل شي باید وپوهول شي چې وارډ یا شخصي اطاق ته له داخلېدو مخکې اول باید دروازه ټک ټک یا اجازه واخیستل شي.

نارینه محصلین باید ښځینه ناروغ چې ښځینه نرس، ډاکټره او یا پایوازه نه وي موجوده په وارډ او معاینه خانه کې تنها ونه ګوري، د معاینه خانې ډسپلین باید مراعت کړل شي د ښځینه ناروغ معاینه کولو پرمهال باید د ناروغ خدمت خصوصاً عورت د اسلامي حدودو په چوکاټ کې معاینه کړل شي، د ناروغ د تاریخچې د تکمیل څخه وروسته د ناروغ خبرې محفوظې وساتل شي له خپلو ټولګیوالو او ناړوندو اشخاصو سره پرې خبرې او بحث ونشي؛ څرنګه چې ناروغ او یا د هغه پایوازان په اضطراب او خفګان کې وي نو د معاینه کولو پر مهال باید نرمي او ښه چلند ورسره وشي، همدارنګه هغه ناروغ چې غریب او محتاج دي د امکان ترحده یې مشکلات حل او یا سالمه لارښوونه ورته وشي.

په  سلام اچولو کې وړاندې والی د نبي کریم (ص) له لوري توصیه شوی دی او د الله (ج) پر وړاندې ډېر ارزښت لري نو ټول زدکړیالان دا باید خپل عادت وګرځوي څرنګه چې پاکي د ایمان برخه ده نو زدکړیالان باید د خپل ځان، وارډ او معاینه خانې پاکوالي ته پام وکړي.

## زدکړیالان له نرس کارکوونکو سره

څرنګه چې نرسنګ د طبي برخې یوه نه بلېدونکي برخه ده او له دوی پرته د یو روغتون خدمات مخته وړل ناشوني دي، نو زدکړیالان یې باید ډېر احترام وکړي او د مقابل جنس سره د اسلامي لارښوونو مطابق تعامل وکړي .

## د روغتون نور مرسته کوونکي کارکوونکی

زدکړیالان باید د روغتون د ټولو کارکوونکو حتی  د دروازې ساتونکی احترام هم په زړه کي ولري او ښه تعامل ورسره وکړي.

## د اسلامي ټولنې په روغتون کې د بشري منابعو پراختیا او روزنه

د مسلمانانو روغتون باید د خپلو کارکوونکو د ظرفیت، وړتیا، مهارتونو او شخصیت لوړولو په موخه د خپلو کارکوونکو د ودې او روزنې لپاره مختلف پروګرامونه پلان او همغږي کړي چې د کارمندانو د اوږدې مودې روزنې لپاره لاندنې ستراتیژۍ باید په پام کې ونیول شي:

- فکري رزونه د کارمندانو پوهه او مهارتونه لوړول او وده ورکول.
- د احساساتو روزنه




د کارمندانو روحاني پوهې او دیني هویت ته وده ورکول، چې دغه روزنه له هغه ورځې پیلېږي چې یو شخص نوی له روغتون سره وصلېږي او همدا روزنه د یوه منظم سیستم له لارې پایداره ساتل کېږي .

### د نویو کارمندانو لپاره پروګرامونه:

١) لارښودي پروګرام

- د اسلامي روغتون پېژندنه
- د ناروغ د لمانځه اړوند ورکشاپ
- د مقاصد الشریعه او قواعد الفقهیه پېژندنه او په دې پوهول چې څرنګه یې تطبیق کړي.

## د اعتکاف (خلوت) پروګرام

هر کارمند باید د دوو ورځو او یوه شپې لپاره په هغو امکاناتو چې د روغتون لخوا ورته برابر شوي دي د دې پروګرام سره یو ځای شي ترڅو خپل رول دا لله (ج) په وړاندې د یو بنده په ډول څرګند کړي او خپل کار د مسؤلیت، اهمیت او احسان له لارې ترسره کړي.

## اونیز پروګرامونه

د کارمندانو د پرمختیا لپاره باید ځینې اوونیز پروګرامونه په پام کې ونیول شي؛ لکه:

- د اقراء ټولګی: نوي کارکوونکو ته د قرانکریم د زده کړې او د تلاوت پخاطر.
- د تجوید ټولګی: هغه کارمندانو ته چې غواړي د قران کریم د تلاوت مهارت یې زیات شي.
- د ژبې د زده کولو اساسي ټولګی: د هغه کارکوونکو لپاره چې غواړي عربي ژبه زده کړي.
- حلقه او تعلیمي دایره: دغه پروګرام د اسلام په دین د لانبه پوهېدو لپاره او استحکام لپاره ضرور ده چې لاندې درې اصول په بر کې نیسي.

۱. تفهم: افهام او تفهیم
۲. تعرف: پژندګلوي
۳. تکامل: کمال ته رسېدل

## د کارمندانو لپاره تعلیمي حلقه

- هره میاشت باید په اجباري ډول د ټولو کارمندانو لپاره دوه ځله ترسره شي.
- هر ګروپ به د یو مشر په واسطه اداره کېږي.

## د مشرانو، څارونکو( د سوپروېزارانو) لپاره تعلیمي حلقه

- هره میاشت باید یو ځل ترسره شي.
- ددې هدف دادی چې د ټولو ګروپونو مشران سره جمع کېږي او د خپل تعلیمي حلقو کارکړنې بیانوي او که چیرې په نویو موضوعاتو خبرې شوي وي نو هغه هم تر بحث لاندې نیسي.

## په اسلامي روغتون کې د ډاکټرانو لپاره تعليمي حلقه

- د دې پروګرام هدف دادی چې د ډاکټرانو او د دوی کورنيو ترمنځ د ورورۍ اړيکه لاټينګه شي.
- دغه راټولېدنه بايد د مياشتې په جريان کې  يو ځل د  ډاکټر په کور او يا هم په يوه ارامه فضاء ترسره شي چې په لاندې ډول بايد ترتيب شي.
- په جماعت سره لمونځ  کول .
- د قران، حديث، سيرت او فقهې د مطالعې پواسطه سره د ديني پوهې زياتول .
- په موجوده موضوعاتو بحث کول.

## قران کريم د تلاوت پروګرام په ورځ کې يوه صفحه تلاوت کول:

- دغه پروګرام د اسلامي روغتون په هر غړي کې د قران کريم د تلاوت علاقمندي ته وده ورکوی.
- همدارنګه دغه پروګرام په کار ځای کې د قران کريم تلاوت ته رشد ورکوي.
- ددې پروګرام يو هدف دا هم دی چې کارکوونکي داسې تربيه او وهڅول شي ترڅو قران کريم په خپل ژوند کې د يوه لارښود په توګه ونيسي.

## د اسلامي لکچرونو پروګرام

د دې پروګرام مقصد دادی چې په مکرر ډول سره په ګټورو معلوماتو باندې خبرې وشي.

## د شنبې ورځې لکچرونه

دغه اسلامي لکچر بايد هرې شنبې ورځې د OPD، ناروغانو په انتظار خانه او يا کوم بل مناسب ځای کې د ۴۵ دقيقو لپاره ترسره شي، بايد مختلف وينا کوونکي پکې برخه واخلي د رخصتيو په ورځ بايد نه وي او د مياشتې په شروع کې يې وخت تعيين او اعلان کړل شي، دغه لکچر بايد ټولو وارډونو ته تلويزيزون يا کومې غږيزې الې له لارې ورسول  شي ترڅو ناروغان او هغه کسان چې په دنده بوخت وي  له دې اسلامي پوهې څخه برخمن شي  او هغه کسان چې نوکريوال نه دي بايد مستقيما په پروګرام کې ونډه واخلي.

## د قیام الیل پروګرام

دغه پروګرام د یو اسلامي روغتون د ځانګړې امریه څانګې پواسطه سره تنظمیږي او مقصد یې دادی ترڅو کارکوونکي روحي تسکین او د الله (ج) رضاء حاصله کړي، دغه پروګرام د دوو میاشتو لپاره ترتیب او هره میاشت وي په میاشتنۍ تعلیمي حلقه کې باید کاري ګزارش وړاندې شي.

## د نورو روحاني پروګرامونو وده

- د بشپړ قرانکریم د تلاوت ختم.
- هر کال په روژه کې د قران کریم ختم کول .
- ټول کارکوونکي پکې واخلي.
- د قران کریم د ختم څخه وروسته د ختم مراسم ترتیب او افطار د ترسره شي.

## اقامة الصلوة

اذان او اقامت باید په لاوډسپیکر کې ترسره شي.

ټول کارکوونکي باید تشویق شي ترڅو لمونځ په جماعت سره په جومات او یا هغه ځای کې چې روغتون کې د لمانځه لپاره جوړ شوی وي، اداء کړي.

## د جنازې د ترسره کولو ورکشاپ

ټول مسلمان باید د جنازې د لمانځه په طریقه پوه کړل شي، چې د دې لپاره یو منظم باید ورکشاپ ترتیب شي.

## پرلهپسې طبي زده کړې

د پرلهپسې طبي زده کړو لپاره باید د روغتون د باتجربه ډاکټرانو له لوري د ځانګړو موضوعاتو اړوند د کارمندانو د پوهې لوړولو په موخه میاشتني او یا هم په پنځلس ورځني شوونیز پروګرامونه جوړ او وړاندې شي؛ باید داسې موضوعات وټاکل شي چې کارمندان د اسلامي نظریاتو اړوند لا ډېر پوهاوی تر لاسه کړي. د نرسانو لپاره هم باید همدا ډول پروګرامونه په پام کې ونیول شي.

## د کارکوونکو خیریه (مرستندویه) فنډ

په دغه مشترک فنډ کې هر کار کوونکی د میاشتې یو ځل یوه کمه اندازه پیسې اچوي چې عموماً د لاندې اهدافو لپاره استعمالیږي.

- د یو مصیبت په وخت هر کارکوونکي ته سمدستي توګه د مرستې تهیه کول.
- د ناروغ یا کارکوونکي اولادونو ته چې په ازموینو کې ښه نمرې اخیستې وي د Scholarship لپاره د پیسو ورکول.

## په روغتون کې د شرعي شورا جوړول

د اسلامي ټولنې روغتون باید د اسلامي اصولو مطابق جوړ او د اداره کولو لپاره یې باید یو داسې شرعي شورا، چې غړي یې دیني عالمان، اداري مدیران او مشران ډاکټران وي، جوړه شي.

## د کارمندانو لباس

لکه څرنګه چې لباس د یوې اداري یا سازمان د کلتور، مسلک او فلسفې نمایندګي کوي نو له همدې امله د روغتون د لباس اړوند باید لاندې نقطې په پام کې ونیول شي:

- د ښځو لپاره باید داسې لباس وي چې ټول وجود یې پکې پټ وي پرته له هغو برخو چې کار ورڅخه اخلي او د نارینه لباس به لږ تر لږ دومره وي چې لمانځه پر مهال یې عورت پټ کړای شي.
- اغوستونکې جامې باید ډبلې او غیر شفافې وي؛ نه داسې چې لاندې ورڅخه وجود او د پوستکي رنګ ښکاري.
- ډېرې باید تنګې نه وي.
- جامې باید تحریک کوونکې نه وي.
- همدارنګه د نارینه او ښځینه لباس ترمنځ توپیر موجود وي.

### روغتون د سګرټ څکولو ځای نه دی

ناروغان، پایوازان او یا مراجعین چې د روغتون د ننه سګرټ څکي باید سخته جریمه پرې ولګول شي؛ ځکه چې روغتون د سګرټ څکولو ځای نه دی.



## شکایتونو ته رسیده ګي

د مستقیم او یا هم غږیز شکایت پر وخت د شکایت کوونکي سره په موسکا خبرې وکړئ او له سلام وروسته خپل ځان ور وپیژنئ ترڅو شکایت کوونکی په ښه ډول سره شکایت درته وړاندې کړي، که چیرې لیکلی شکایت مو ترلاسه کړ هغه تحلیل کړئ او د تلیفون له لارې د شکایت کوونکي سره اړیکه ونیسئ، شکایت په دقت سره واورئ  او پر دې ځان باوري کړئ چې د ناروغ ټولو شکایتونو ته به رسیده ګي کېږي، د شکایت کوونکي څخه مفصل شکایت واخلئ ورسره د هغه نوم، پته او د مبایل نمبر هم ولیکئ او یوه تفصیلي دوسیه جوړه کړئ، فرض کړئ که چیرې شکایت ربښتیا په طبي قانوني لحاظ سره جدي وي نو دا هم په پام کې ونیسئ چې شکایت کوونکی  بیا یو قانوني اقدام هم کوي  نو په داسې حالاتو کې باید د طبي قوانینو لارښود تعقیب کړای شي، د شکایت کوونکی پر وړاندې خواخوږي ښکاره کړئ مګر مخکې له مخکې چې تحقیق پای ته نه وي رسیدلی فیصله مه کوئ، د شکایت کوونکی د شکایت په نښه کولو له امله، چې روغتون ته یې کړی، مننه وکړئ او همدارنګه شکایت کوونکی ته څومره ژر چې شونې وي د شکایت د حل اړوند خبرداری ورکړئ چې له اووه ورځو څخه زیات باید ونه ځنډیږي. د شکایت اړوند اداره کوونکي GM/ECO/MD خبر او عمل باید ترسره شي ، شکایت د مربوطه برخې د مشر پواسطه په دریو ورځو کې حل او که له دې زیات وخت ته اړتیا وي شکایت کوونکی  دې په جریان کې واچول شي.

تحقیق، د تحلیل او د شکایت لپاره د حل لارې چارې وسنجول شي او د اړونده برخې مشر سره دې بحث، توصیې او وړاندیزونه شریک شي. د شکایت کوونکي سره دې اړیکه ونیول شي  او د تحقیق او څیړنې  نتایج  دې ورسره شریک کړل شي او که چېرې د شکایت اړوند کومه غلطي یا نیمګړتیا موجوده وي نو ښښنه دې ترې وغوښتل شي. کله چې شکایت کوونکي قناعت حاصل کړ نو مسئله حل او فصل ګڼل کېږي،  ټول اسناد دې برابر کړل شي، کله چې مسئله حل شي او کوم مشکل ترې نه جوړېږي نو شکایت کوونکی ته د ملګرتیا په ډول  وښودل شي.

## د مذهبي چارو د څارنې مامور (عالم)

د یوه مذهبي مدیریت تاسیسول، چې د دیني چارو د تنظیم لپاره ښځینه او نارینه دیني مامورین په کې دنده ولري. د دیني چارو د تنظیم د یاد دفتر دندې په لاندې ډول دي:

- پدې ځان يقيني کول چې د روغتون ټول پروسېجرونه او کړنې د قواعد الشريعه او مقاصد الشريعه په چوکاټ کې ترسره کېږي.
- په ټولو نرسانو باندې ټينګار کول چې له ناروغانو سره د اسلامي سلوک پر بنسټ د ترحم، شفقت، حوصلې، شان او شوکت له مخې تعامل وکړي.
- مذهبي آمر يا مامور بايد هره ورځ د ناروغانو کتنه وکړي، راپور جوړ کړي او ناروغانو ته د لمانځه او دعا اړوند لارښوونې وکړي.
- هغه ناروغان چې عمليات يې ترسره کېږي، مذهبي آمر بايد له عملياتو مخکې ورسره ووينې، ډاډ او تسليت ورکړي؛ ترڅو ناروغ روحي تسکين ترلاسه کړي همدارنګه ناروغ ته د استغفار، لمونځ او دعا تلقين وکړي.
- د مذهبي چارو د څارنې کارمند بايد په ټولو وختونو کې د لمانځه اړوند د ټولو امکاناتو له شتون څخه ځان مطمين کړي.
- د ناروغ سره د لمانځه په وخت کې مرسته وکړي.
- د ناروغ د کټ ترڅنګ دعا مطهراوو راځړول او ناروغ ته لارښوونه کول چې تلاوت يې کړي.
- د روغتون څخه تر رخصت کېدو مخکې د دعا لوستل.
- د قبلې د نښان له شتوالي څخه ځان مطمئن کول چې په سم لوري لګول شوي وي.
- د PA له غږيز سيستم څخه ځان مطمئن کول .
- د پنځه وخته لمانځه لپاره د PA سيستم څخه ځان باوري کول چې په وخت يې ترسره کوي.
- د ناروغ د مړينې پر وخت ناروغ ته د شهادت کلمه تلقين کول.

## د Out Patient اړوند د دندو لايحه

- د تقسيم اوقات او د اوليت له مخې د ناروغانو کتنې څخه ځان مطمئن کول.
- د ناروغ او يا د هغه پايوازانو سره ستړي مشي کول (سلام کول).
- د تاريخچې، فزيکي معاينې او لابراتوار معايناتو پر مهال د محرم شتون.
- تشخيص ايښودل.
- ناروغ ته مفصله تشريح کول او په دې يې يقيني کول چې شفاء د الله (ج) له لوري ده.
- د نوبت مراعتول.

د پروسیجرونو او جراحي عملیاتو اړونده د وظیفې تشریح( لایحه وظایف)

- د ناروغ سره سترې مشي کول.
- د ناروغ له موافقې څخه ځان مطمئن کول.
- ناروغ او د ناروغ پایوازانو ته د پروسیجر تشریح کول او هغوی ته دعا او د الله (ج) څخه د امید غوښتل.
- د انستزي څخه مخکې درود شریف او دعا ویل.
- د پروسیجر او یا د پیچکارۍ په پیل کې بسم الله یا کافي یا شافي ویل.
- د پروسیجر پرمهال الله ج په یاد لرل او له هغه جل جلاله څخه مرسته غوښتل.
- د پروسیجر په پای کې دعا الحمدالله او ان شاءالله ویل.

## د وارډ اړوندو دندو تشریح

- ټولو کارکوونکو ته سلام او سترې مشي ویل او د مونث جنس سره د مخامخ کېدو پر مهال د محرم له شتون څخه ځان مطمئن کول.
- ناروغ ته سلام اچول.
- د ناروغ څخه د اوسني حالت، ستونزو او نویو اعراضو پوښتنه کول.
- دبستر په سر د ناروغ معاینه کول، له ناروغ اجازه غوښتل او هر وخت د هغه عزت ته درناوی کول.
- ناروغ ته د موجوده صورت حال او راتلونکي پلان تشریح کول او ناروغ پر دې باوري کول چې شفاء ورکوونکی او جوړونکی صرف الله (ج) دی.
- له ناروغ غوښتنه کول ترڅو ځان او خپل ډاکټر ته دده سره د مرستې کولو له وجهې دعا وکړي.
- له ناروغ څخه د تللو په وخت کې وداع یا بیا سلام اچول.

# مالي مدیریت

مالي سیستم باید د دیانت، (امانت) تقویَ او د الله (ج) څخه د وېرې په اصولو باندې ولاړ وی، ټولې نقدي پیسې داخلي عواید او مصرف کېدونکې پیسې باید په تقوی او د الله (ج) څخه په وېرې او د مسولیت په پام کې نیولو سره مصرف شي.

د مالي مدیریت ټول فعالیتونه باید د لوړو مسلکي معیارونو سره په شفاف او دقیق ډول مستند او منعکس شي چې په لنډ ډول د اسلامي روغتون مالي مدیریت ته اشاره کوو.



## ۱ -(income)عایدات

د حسابدارۍ په وخت کې پر مصارفو د عوایدو زیاتېدلو ته Income وایي چې کله کله دې ته خالصه ګټه هم ویل کېږي چې عموماً د پیسو په مقابل کې د خدمت کولو له لارې لاس ته راځي.

- زکات، عشر، فطر، واجبه صدقه

په یوه اسلامي روغتون کې د زکات، فطر او واجبه صدقه د خلکو لخوا د ثواب په خاطر اړمنو ناروغانو ته ورکول کېږي او په ډېر دقیق ډول سره یوازې مسلمان ناروغان چې مستحق یې وي تداوي کېږي.

د زکات، فطر او واجبې صدقې پر پیسو خریداري نشي کېدای؛ ځکه دا یوازې د علاج لپاره وي.

- نفلي صدقې:

د یو اسلامي روغتون لپاره د عوایدو یوه بله منبع ده چې له دغه فنډ څخه د غیر مسلمو د تداوی، مصرف او خریدارۍ لپاره په ښه شان استفاده کولی شو .

- عمومي اهداء (انفاق):

دغه ډول انفاق اسلامي روغتون د سخایانو څخه ترلاسه کوي او روغتون کولی شي چې دغه عواید د روغتون په ټولو ضروریاتو کې استعمال کړي او همدارنګه روغتون کولای شي چې سخاوت کوونکي شخص ته د روغتون د تجهیزاتو د خریدارۍ اړوند چې د دوی له وس او توان سره سم وي او د دوی د خوشالي سبب ګرځي وړاندیز کړي.

## ۲- لګښتونه

د روغتون اړتیا شاید د خریدارۍ، دوا، ترمیم او یا د کارمندانو د معاشونو په برخه کې وي چې دغه ټول خدمات باید په ارام او مؤثره توګه سره وي چې مونږ دا مصارف په څلورو لویو برخو سره ډلبندي کړي دي.

| | |
|---|---|
| ۱. مستقیم لګښت | ۳. وده او پرمختګ |
| ۲. اداري لګښت | ٤. د خرید پانګه |

### ۱-مستقیم لګښت

دغه لګښتونه عموما د خدماتو د عرضه کولو پر مهال منځته راځي.

- د مشورې شریکول.
- د X-Ray د فلم لګښت.
- د لابراتوار د Regents لګښت.
- د IPD طبي کڅوړې لګښت.
- د التراساونډ لګښت.
- د هغو لباسونو لګښت چې د خدماتو د وړاندې کولو پر وخت ترې استفاده کېږي.

## ۲-اداري لګښت

اداري يا غير مستقيم لګښتونه هغه دي چې عموماً په روغتون کې د فعاليتونو لپاره مصرفېږي چې عبارت دی له .

- معاشونه.
- کرايه.
- ترميم.
- بيلونه، لکه ( مبايل،ګاز، برېښنا ، اوبه).
- چاپ او قرطاسيه.
- د پوستي محصول .
- حمل ونقل .
- سفريز
- دکاليومنځلو
- مسلکي اجوره.
- ګډون کوونکي اجوره.
- استهلاک.
- د بانک لګښت.

## ۳-وده او پرمختګ

د روغتون اړتياوو ته په پام سره د ودې او پرمختګ څخه سترګې نشي پټېدای، ځکه چې د يو ښه تجارت او کاروبار د پاينښت لپاره عمومي قاعده او فارمول دادی چې د عامو خلکو اړتياوې پوره کړي، ځکه که چېرې يو کاروبار يا تجارت د مخ پر ودې غوښتنې پوره نه کړي، ډېر ژر يا وروسته د خپلو پيرېدونکو د کمښت سره مخ کېږي، همدارنګه يو اسلامي روغتون هم په وخت سره ودې او پرمختګ ته اړتيا لري نه يوازې دا د خدماتو حجم زيات کړي؛ بلکې تر يوه چت لاندې بايد زيات طبي خدمات ترسره کړي.

### ٤ -د خريد پانگه

هر روغتون د ښو خدماتو د ترسره کولو لپاره د نويو شيانو خريد او بوديجې ته اړتيا لري چې دغه خريد شايد د طبي شيانو، برقي الاتو يا فرنيچرونو په ډول وي چې په لاندې ډول سره يې خلاصه کوو.

١) Bulding @ Lend .
٢) فرنيچرونه.
٣) د دفتر شيان .
۴) برقي شيان.
۵) طبي سامان آلات.
٦) د تلفونو تبديلول.
٧) نقليه وسايط.

### ٣) سپما ( له لگښتونو د عوايدو لوړېدل):

هر پروژه چې په مارکيټ او بازار کې دوامداره وي بايد د Break even Point ( هغه حالت چې گټه او تاوان سره مساوي وي) مرحلې ته په رسېدو کې هم په کافي اندازه سره عوايد ولري همدې ته په ورته ډول اسلامي روغتون هم په Break Even Point کې د لگښتونو په پرتله زيات عوايد جوړوي چې دغه اضافي عوايد بايد د روغتون د ظرفيت او د کيفيت لوړلو لپاره ځانگړي شي.

### ٤ فنډ (پانگه)

فنډ د ځينو خاصو اهدافو لپاره د مالي سرچينو ځانگړي کولو ته وايي، چې دغه اهداف عبارت دي له بېړنيو پېښو، ځانگړی لگښت او يا د ليکلو مسؤليتونه. همدارنگه لکه څرنگه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه چې اسلامي روغتون د خلکو زکاتونه، واجبې صدقې او نور تر لاسه کوي نو بايد ياد عوايد په احتياط او د امانت په ډول سره مديريت شي. اسلامي روغتون دغه عوايد په مختلف فنډونو ويشي او ورڅخه استفاده کېږي چې ځينې فنډونو ته په لنډ ډول سره اشاره کوو:

۱) د ناروغانو لپاره خیریه فنډ.

۲) اکرام المسلمین .

۳) د استخدام کوونکو خیریه پانګه.

۴) Liability Fund .

۵) د مالي سپما پانګه.

۶) ځانګړې پانګه.

## ۵-د شتمنۍ مدیریت

د شتمنیو د مدیریت څخه مقصد د مالي سرچینو لکه په (بانکونو کې نقدې پیسې) په بانک کې هر ډول اضافي پیسې باید د کارمندانو د هوساینې د اداري د پاینبت یا د راتلونکې د ودې او پرمختګ لپاره او یا په داسې ډول ولګول شي، ترڅو عواید ورڅخه ترلاسه شي.

## ۶- پانګونه (سرمایه ګذاري):

د روغتونو د چلولو او پرمخ بیولو لپاره په زیاته اندازه مالي سرچینو ته اړتیا ده چې د دغه هدف لپاره له څو لارو څخه سرچینې تولید کیدای شي، چې دلته موږ د شریعت له اړخه هغه لارې چارې چې کولی شي د روغتون د ودې او پرمختګ لپاره اړتیاوې پوره کړي، بحث کوو چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱) انفاق في سبیل الله.

۲) قرض حسنه.

۳) مرابحه.

۴) مشارکه.

۵) مضاربه.

۶) اجاره .

۷) استصناع.

۸) د اسلامي بانک همکاري.

## د روغتون د کارمندانو د استخدام، دانتخابولو پالیسي او کړنو ارزونه

د مادیزم په اوسني عصر او زمانه کې په نظري او عملي ډول د شرعي لاربښوونو سره سم د روغتون د فعالیت لپاره نمونه رامنځته کول ډېر ستونزمن کار دی (خو ناشوني نه دی) د دې موډل په پرمختګ او عملي کولو کې هغه خلک چې په روغتون کې کار کوي اساسي رول لري؛ نو له همدې وجهې د روغتون د هر کار کوونکي احترام پکار دی، نه یوازې دا چې روغتون ته یې ګټه رسي بلکې له دې وجهې چې د الله (ج) مخلوق او انسان دي او دا یې انساني حق دی.



کارکوونکي هم نه یوازې دا چې د روغتون کارونه د مادیاتو او مزد ترلاسه کولو لپاره ترسره کړي؛ بلکې د الله (ج) رضاء دې په پام کې ونیسي چې په ورته ډول عمل ترسره کول په عبادت کې شمېرل کېږي.

### د Staff یا کارمندانو اړتیا

په هر ډیپارتمنټ کې د هر موقف لپاره په واضح ډول سره د قواعدو او مسؤلیتونه ټاکل او تعریفول په دوراني شکل سره د موقفونو تغییرول او ټولو ته په ښه ډول سره د مسؤلینو د اجراء دنده سپارل.

# د پروسیجرونو او ټاکلو پالیسي او د استخدام امر لیکل

## د دندې درخواست محرمیت

د دندې در خواست یو محرم سند دی چې د امانت په توګه باید وساتل شي چې د ډیپارټمنټ له مشر او مربوطه اشخاصو پرته بل څوک باید ورته لاسرسی ونلري.

### د دندې اعلان

د اعلان پرمهال لاندې اسلامي لارښوونې باید په پام کې ونیول شي.

- وړتیا : د استخدام پرمهال همېشه باید وړتیا په پام کې ونیول شي.
- د انتخاب د پروسې روڼتیا (شفافیت): د انتخاب پروسه باید تر ممکنه حده پورې شفافه او روښانه وي.
- د دندې حقیقي کتنه: د دندې ربنتیني کتنه د دندې غوښتونکي د دندې اړوند دواړه مثبت او منفي اړخونو په اړه د معلوماتو د برابرولو پروسه ده، چې اکثره دا هغه وخت پېښېږي کله چې غوښتونکي د دندې اړوند د پام اړولو په هڅه کې وي او د هغې د منفي اړخ اړوند بحث نکوي؛ د مثال په ډول د طبي وسایلو د خدمت لپاره ګمارل شوی انجنیر شاید د کار کولو په مهال د رادیواکتیو شعاعو د چاپېریال سره مخ شي یا یو اداري افسر په یو ځای له مقررېدو وروسته شاید یو بل لېرې ځای ته منتقل کړل شي.

په پورته مثال کې مربوطه کاندیدانو ته د وظیفې له وړاندیز مخکې د ممکنه خطراتو اړوند معلومات ورکول اړین دي.

## له استخدام وړاندې طبي ارزونه

د کاندید شوي یا استخدام کېدونکي شخص د روغتیا ډاډ باید ترلاسه شي په داسې ډول چې باید مطمئین شو چې نوموړي شخص خو داسې مزمنه ناروغي چې د ده د کار مانع ګرځي یا داسې ساري ناروغي چې نورو کارکوونکو ته سرایت کوي نلري؟ ددې لپاره باید له دندې مخکې د ده طبي ارزونه (ټیسټونه) په یو منل شوي طبي مرکز کې ترسره او نتایج یې له اړوند څانګې سره شریک کړل شي. هغه کاندیدان چې په طبي ارزونه کې کامیاب شي په دنده کې منل کېږي.

## د حوالې او اعتبار تصديق

کوم څه چې کانديدان د مرکې يا Interview پرمهال شريکوي او ادعا کوي د دې لپاره بايد يوه خپلواکه او ازادانه کتنه ترسره شي. نوماند بايد د تاييد په خاطر دوه يا درې نفر چې د ډيپارټمنټ مشر يې کړنې او رسميت تائيد کړي، د ضمانت لپاره راولي او همدا ډول کانديد بايد خپل اسناد له يوه تعليمي انسټيټيوټ څخه تائيد کړي چې د پورته دواړه مراجعو له تائيد وروسته د نوماند د دندې غوښتنه منل کېږي .

## پر دنده ګمارل

هر هغه څوک چې له پورته دوه پړاوونو څخه تېرېږي په دنده کې منل کېږي. له هغه وروسته په يوه ليکل شوې پاڼه باندې استخداموونکی او دنده غوښتونکی دواړه لاسليک کوي چې يوه کاپي يې له استخداموونکي سره په ريکارډ کې پاتې کېږي.

## د دروغو ژمنې کول

څرنګه چې دروغ دوکه او فريب په اسلام کې په شدت سره منع شوي دي نو د دندې اړوند هم بايد دندې اجرا کوونکي ته د هغه د معاش د کاري ساعتونو او مکافاتو اړوند له اوله وويل شي او څه چې په تعهد نامه کې ليکل شوي وي بايد عمل پرې وشي، که چېرته داسې ونه شي؛ استخدام شوی کس د کمترې احساس وکړي او يا ورسره په کړې ژمنه کې دوکه وشي، نو نوموړی خپله دنده پرېږدي.

## د نوي کارکوونکي معرفي کول

نوی استخدام شوی کارکوونکی بايد د روغتون ټولو غړو ته معرفي شي او د روغتون له ټولو وسايلو سره اشنا کړل شي.

## ازمايښتي (امتحاني) دوره

د روغتون له پاليسۍ سره سم نوی کارمند شايد تر ۹ ورځو پورې امتحان او وارزول شي چې خپله دنده په درست ډول سره اجرا کولی شي او کنه او د که اړتيا وه دا موده د نهو (۹) ورځو لپاره نوره

هم غځېدلی شي؛ خو که چېرې قصداً دا کار کېږي او یا د کارکوونکي حق خوړل کېږي نو دا کار بیا په اسلام کې منع او حرام دی او له یو اسلامي روغتون سره دا کار مناسب نه دی.

## د کړنو (فعالیتونو) ارزونه

د هر شخص وړتیا او کړنې د ده او د ده د Supervisor ترمنځ د دوامداره اړیکو پر اساس معلومېدلی شي چې د کارکوونکي اړوند د لاندې شیانو په اړه باید ځان ډاډه کړي:

- له کارکوونکي څخه د شته توقعاتو په اړه باید خبر ولري، یعنې ارزونکی په دې پوه وي چې نوموړی کارمند د کومو دندو لپاره ګمارل شوی دی.
- د کارکوونکي د کړنو اړوند Feed Back تیارول.
- د تربیتي پروګرامونو برابرول، ترڅو کارکوونکی اوس مهال او په راتلونکي کې خپل کارونه په ښه ډول ترسره کړي.

## کلنۍ ارزونه

په مؤثر ډول سره د کړنو ارزونه د کامیابۍ یو اساسي راز دی، چې د یوې ادارې لپاره ترڅو خپل سیستم په ښه ډول سره کامیاب کړي. ډېر مهمه ده ترڅو دغه ارزونه په ښه ډول سره ترسره کړي.

د ارزیابۍ پر وخت د لمانځه ادایني ته باید ځانګړی ارزښت ورکړل شي. هغه کارکوونکي چې په لمانځه کې شرکت کوي باید معاش او نور امتیازات یې زیات کړل شي او د دې تر څنګ د کارکوونکي د شخصیت جوړونې او نورو خواصو له مخې ارزونه ترسره کېږي چې ددې لپاره KPI N ته درناوی په پام کې ونیول شي.

## وده او روزنه

لکه څرنګه چې په سریزه کې هم ورته اشاره وشوه د اسلامي روغتون لومړی هدف د هر کار کوونکي د کاري وړتیا د پرمختګ ترڅنګ مذهبي پوهې او وړتیا ته وده ورکول، دویم په کاري ساحه کې د کارکوونکي د وړتیا لوړول چې همدا د کامیابۍ اساسي او کلیدي راز دی. که څه هم دویم ډول یې د موادو پر بنسټ د روغتونونو اولنی تمرکز دی، خو د اسلامي روغتون په موډل

کې بیا د مدیریت په ټولو اړخونو کې د دواړو برخو په وده او پرمختګ باندې ټینګار شوی دی، همدارنګه د روزنې پرمختګ پروسه په ټولنیزه توګه د افرادو او ټیم په جوړښت باندې قوي مثبته اغیزه لري.




د روزنې او پرمختیا ځانګې اساسي کار د افرادو او ټیمونو د مسلکي او مذهبي فعالیتونو په ښه توګه ترسره کولو څخه ځان ډاډمن کول او تربیه کول دي، چې د دې کار لپاره یو منظم پلان ته اړتیا ده. دغه شعبه باید د ټولو هغو اسلامي پرمختګونو سره چې یو اسلامي روغتون یې له خپل پرسونل څخه غواړي باید په نیږدې توګه ارتباط ولري چې لاندې څو پړاوونه د مؤثر مدیریت لپاره ضرور دي.

## د روزنې د اړتیاوو ارزونه

د فعالیت ارزونې د پروسې په جریان کې مدیر او کارمند په ګډه د کاري ساحې د ښه کولو او د اړتیا وړ اصلاحي اقداماتو په اړه بحث کوي. که چېرې د پوهې او یا مهارتونو اړوند کومه تشه یا خالیګاه موجوده وي نو بیا د روزنې ځینې اړتیاوې په ګوته کېږي چې دغه پروسه د اړتیاوو ارزونې د پروسې په نوم سره پېژندل کېږي. په ورته توګه دغه پروسه ممکن د کارمندانو د راتلونکو پلانونو د اړتیاوو او پرمختګ د پېژندلو لامل شي؛ د مثال په توګه که چېرې یو کارمند غواړي چې په

راتلونکي کې ځارونکي یا Supervisor شي نو هغه سوپروایزر د مهارتونو زده کولو ته اړتیا لري، چې د همدې پروسې له لارې پېژندل کېږي.

## د روزنې پلان

د روزنې د اړتیاوو د ارزونې له پروسې وروسته مکمله ډاټا د روزنې د پلان په ډول ترتیبېږي چې دغه پلان د کارمندانو اړوند روزنې د وخت تعین څخه وروسته د ادارې لخوا ورته اجازه ورکول کېږي .

## تطبیق

پلان له اجازې وروسته تطبیقېږي، ډېرې وختونه د روزنکو او روزنکېدونکو مؤسسو ډیټابیس د HR یا د بشري سرچینو له څانګې سره مخکې له مخکې موجود وي او کارمندان خپل اړوند ترینګ ته نومول کېږي.

## ارزونه

د ترینګ له اختتام وروسته له کارکوونکو او سوپرویزرانو څخه پوښتنه کېږي چې ټرینګ یا روزنه مؤثره وه او کنه ځکه چې دغه ارزونه د دوی په راتلونکو کړنو باندې اغېزه لري.

## معاش/ د معاش جوړښت

مکافات او مجازات چه کېدی شي پولي یا غیر پولي وي د روغتون لخوا په مختلفو ډولونو په پام نیول کېږي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- ثابت معاش

دا اساسي معاش دی چې د نورو فکتورنو پرته کارمند ته د هغه د تعهد یا قرارداد له مخې ورکول کېږي.

- متغیر معاش

د معاش یو بل متغیر شکل دی چې کارمند ته د هغه د کړنو او کارکرد ګي په مقابل کې ورکول کېږي.

## پخپل وخت د معاش ورکول

معاشونه ټولو کارکوونکو ته باید پخپل وخت ورکړل شي که چېرې یو کارمند د ورځنۍ مزد پر اساس ګمارل شوی وي خپل مزد او حق الزحمه باید په هماغه ورځ یا سبا ورکړل شي، یا هغه کارکوونکي چې معاشات يې هفته وار یا میاشتني وي د هفتې یا د میاشتې په پای کې ورکړل شي په ځینو هېوادونو کې د معاش خپله پالیسي موجوده وي چې روغتون هم باید د حکومت پالیسي تعقیب کړي.

## د مسؤلیت او د کار زیاتېدو پر وخت د معاش زیاتېدل

د کار پرمهال اکثره وخت داسې کېږي چې مسؤلیت او کاري پېچلتیا منځ ته راځي چې ورسره هم مهاله باید د کارمند معاشي امتیازات هم زیات شي که چېرې د کارونو زیاتېدو سره د هغه امتیازات زیات شي نو بیا د ده د کار زیاتېدو ته په کتو باید د هغه اړتیاوو ته لاسرسی وشي یا پوره کړل شي، اکثره وخت په کمه فیصدي سره د کار زیاتېدا هم ډېره ستونزمنه وي.

## د اضافي کار اجوره

ټول کارکوونکي چې د خپل کاري وخت څخه زیات کار کوي په سلسله مراتبو باید د هغه اضافه کار جبران کړل شي؛ یعنې د اضافي کار اجوره او حق الزحمه ورکړل شي.

## امتیازات

ځینې کارکوونکو ته د حق الزحمې امتیازات، چې ترانسپورټ، د مبایل خرچه او د کور کرایه وی، ورکول کېږي او په ځینو ځایونو کې ورته بیا لاندې امتیازات وړاندیز کېږي.

- بیمه : صحي یا د موټر بیمه.
- لنډ مهاله ګټه لکه انعام یا د فنډ پیسې .
- د تقاعد فنډ.

همدارنګه دا هم باید په یاد ولرو چې مروجه بیمه حرامه ده او همدارنګه د سود پر اساس چې کومه ګټه ترلاسه کېږي هم جواز نلري.

ځو کاله وړاندی په دې برخه کې کومه بله چاره نه وه خو اوس د تکامل او شریعت مطابق د پانګې اچونې د انتخابونو په پېژندلو سره روغتونونه کولی شي د شریعت مطابق خپلو کارمندانو ته امتیازات ورکړي.

## د کارمندانو ډیسپلین او مجازات

په ځینو مواردو کې د کارمندانو ځیني کړنې لکه لفظي اخطار، لیکلی اخطار یا له دندې ګوښه کول د قانون سره سم چې ورته ترتیب شوي اجرا کېږي. همدارنګه دا ډاډ باید ترلاسه شي چې مجازات باید په عادلانه توګه وي او که کومه جزاء د شریعت د اصولو سره په ټکر کې وي، لرې کړل شي. جزاء باید د جرم د شدت سره متناسبه وي او په هیڅ صورت سره د جرم د شدت ځخه تجاوز ونه کړي؛ نو له همدې امله د شکایاتو د حل ټیم د غړو ځخه باید یو دیني عالم وي. د دې لپاره تر څو ډاډ ترلاسه شي چې مساوات او عدالت پلی شوی وي.

## د کارکوونکو سره په درنښت چلند کول

څرنګه چې اسلام په حلال رزق کولو باندې ټینګار کوي نو له همدې امله هغه څوک چې حلال رزق ګټي نو بیا د وقار او درناوي چلند ورسره وشي.

## قرارداد ته پابندي

ګمارونکی او کارکوونکی دواړه مکلف دي چې په قرارداد کې لیکل شوي شرایط پوره کړي او هغو ته ژمن پاتې شي چې دغه شرایط عبارت دی له معاش ، د موټر تیل ، د رخصتي حق او داسې نور .

## د کار زیاتوالی

هیڅ استخدام کوونکي ته اجازه نشته چې په کار کوونکي باندې زیات کار واچوي، د دندو د کاري پیچلتیا له امله لاندې شیان په نظر نیول په کار دي:

- هر کارکوونکي ته باید د هغه مسؤلیتونه او دنده په واضحه توګه تشریح شي.
- هر کارکوونکي ته باید د هغه کاري شیان، منابع ، ټرینګ او نور د خپلې دندې د ترسره کولو نور اړین توکي په واک کې ورکړل شي.

## اجباري اضافي کار کول

که څه هم اصولاً په اجباري ډول يو څوک کار ته مجبورل د توجيه وړ نه دي او ورته اجازت نشته خو بيا هم که په ځينو مواردو کې دا اضافه کارکولو اړوند دوه طرفه موافقه شوې وي نو استخدام کوونکی د خپل کارمند څخه اړوند کار د ترسره کولو غوښتنه کولی شي ترڅو يې ترسره کړي خو دا کار بايد دوامدار نه وي.

## د استخدام ياد کار اړوند ابهام

کاري تعهدنامه بايد روښانه وي. په داسې ډول چې د معاش د رخصتۍ او کارى ساعتونو اړوند هر څه بايد مفصل تشريح شوي او توافق پرې شوى وي، چې وروسته بيا شخړه او جنجال په کې را نشي؛ ځکه چې بيا دا ډول کړنې په اسلام کې منع وي.

## د غير مسلمو حقوق

که چيرې د روغتون کارمند غير مسلم وي نو د نورو مسلمانو کارمندانو غونډې دوی هم بايد د مذهب او دندې اړوند حقوقو څخه برخمن او رعايت يې وکړل شي او د دوی اړوند د اړتيا د پوره کولو لپاره بايد له دارالافتاء سره مشوره وشي.

## جشنونه او نمانځغونډې (Function and Parteius)

په روغتون کې غونډې او جشنونه هم بايد د شريعت مطابق وي؛ مثلاًً د لمانځه د وقفې لپاره جدا ځای درلودل، مناسب لباس چې عورت پټکې نه ښکاره کېږي.

## رسمي لباس (Dress Cuds)

ښځينه او نارينه دواړه بايد د اسلامي لباس پابند واوسي.

## د کارمند د رخصت   کېدو پر وخت د هغه درناوی:

که چېرې يو کارمند پخپله استعفا کوي او يا د کميټې لخوا له کاره ايستل کېږي بايد زيات احترام او قدرداني يې  وشي او همدارنګه کارمند ته اجازه ورکړل شي تر څو د بلې وظيفې تر پيدا کېدو پورې د کميټې د کمپيوټر او برينټر څخه هم استفاده وکړي او استخدام کوونکی بايد د خپل کارمند سره د کار په پيدا کېدو او هغه ته په ښه مشوره ورکولو کې مرسته وکړي.

## د وتلو وړاندیز Exit Feedback

د کارمند وتلو پر وخت له هغه څخه غوښتنه کېږي چې د روغتون او د روغتون د مدیریت اړوند د فیډبک فورمه ډکه کړي چې له هغه وروسته Head officer له لارې د امکان تر حده حقایق راټولي چې وروسته یې له مدیریت سره شریکوي چې د دغه فیدبک له لوري د کاري محیط د معاشونو جوړښت د مدیریتي کړنو او پرمختګونو اړونده معلومات برابریږي.

## د کارمند د وروستیو معاشونو پر وخت تصفیه

دا د استخدام کوونکي مسؤلیت دی چې هر څومره زر چې ممکنه وي د جلا شوي کارمند معاشات تادیه او ورکړي؛ ځکه ځینې وخت د ورکړې دا پروسه ډېر وخت نیسي او جلا شوی کارمند زیان مومي.

## غلط وړاندیز یا فیډبک

ځینې وختونه د بشري سرچینو له څانګې څخه د هغوی د پخواني کارمند اړوند معلومات غوښتل کېږي، د دې لپاره چې د پخواني کارمند سره همدردي وښیي د بشري سرچینو ډیپارټمنټ د هغه کارمند اړوند مثبت فیډبک ورکوي. که هغه کارمند د ناسم چلند او یا د نه کار کولو له امله ګوښه شوي هم وي، خو دوی دا شخص مخلص او سخت کارکوونکی ښیي؛ یعنې دده اړوند مثبت( چې په حقیقت کې غلطمعلومات دي) ورکوي. څرنګه چې دا معلومات امانت دي نو دوی باید حقیقت او مثبت معلومات ورکړي ترڅو نوي استخدام کوونکي ته هغه اړوند پوره معلومات او وضحات وي ځکه چې حضرت نبي کریم (ص) فرمایلي دي.

اَلْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ(ترمذی)

ترجمه ! مشوره ورکوونکي امین ګڼل شوی وي ( باید مشوره غوښتونکی ته سمه مشوره ورکړي).

## د ټولنیزو چارو شعبه

د ټولنیزو چارو شعبې کړنې

د ناروغانو لیدنه

## پاليسي

د رخصت   له ورځو ځخه پرته د ناروغانو د ليدنو لپاره بايد منظم قواعد ترتيب شي.

- د استثنايي وجوهاتو نه بغير بايد ملاقات کوونکی شخص له عين جنس څخه وي.
- د ناروغ د طبي اسنادو کتلو لپاره د نرس سره مشوره کول.




- که چيرې د ناروغ يا د هغه د پايواز يا ملاقات کوونکي لخوا کوم وړانديز يا د بيړنۍ عمل غوښتنه وي نو د وارډ مشر خبروي.

## موخې

- د تداوي پرمهال ناروغ  او د هغه ملاقات کوونکو ته روحي تسکين او لارښوونې کول .
- په رواني موضوعاتو کې ناروغ ته مورال ورکول او د هغه حمايت کول.

## د جنازې ترتيب

پاليسي

- په روغتون کې د مړينې د واقع کيدو په صورت کې د مسؤليت منل .
- د روغتون مشر خبروي.
- د دفتري يا کاري ساعتونو وروسته هم په روغتون او يا د مړينې په ځای کې حاضريدل.
- په جنازه کې شريک کيدل ،د مړي کورته د تسليت مراتب وړاندې کول او د ضرورت په وخت کې ورسره مرسته کول .

اهداف

- د جنازې په چارو کې د انسانتيا او ګرندي کولو لپاره د ناروغ د وارث سره مرسته کول.
- د وژل شوی کس د خپلوانو سره همدردي او هغوی ته مورال ورکول .

## اونيز اسلامي لکچر

پاليسی.

- د عمومي رخصتۍ څخه پرته د هرې شنبې په ورځ د لکچر پلانول.
- د هرې مياشتې په پيل کې د لکچر لپاره تقسيم اوقات او د وخت تعينول.
- په ټولو وارډونو او اطاقونو کې د لکچر خپرول.

موخې

- ناروغانو او کاري ورټيا د زياتولو لپاره د معلوماتو او روحي لارښوونو زياتول.
- په منظم او اساسي ډول سره د ګټورو معلوماتو خپرول.

## مشوره

پاليسي

- په تشويقي خبرو سره د ناروغانو روحي فشار کمول.
- د ډاکټر په غوښتنه بهر ناروغانو ته د مشورتي خدماتو چمتو کول.
- د تداوي په جريان کې داخل بستر ناروغانو ته ديني مشورې ورکول.

موخې

- روحي تسکين او مورال ورکول.
- په الله (ج) د ناروغانو باور پيدا کول.

# په روغتونونو کې د مقابل جنس اغېزه

که څه په اوسني عصر او زمانه په روغتونونو کې د مقابل ته تمایل د مخنیوي وړ ندي خو بیا هم څرنګه چې اسلام یو عملي دین دی نو د هر ټولنې اگر چه یوه ټولنه د بلې ټولنې سره فرق لري د هغوی د کلچر او نورمونو مطابق د هر ټولنې لپاره په مشخص حالت کې د حل لاري لري چې د دغه مشکل د حل لپاره ترټولو اولنۍ اصل دادی چې د لوړو مقاصدو د (مقاصد الشريعه) تسهل او تحفظ رامنځته شي.

باید ووایو چې اسلامي روغتون د ځینې اشد ضرورتونو لپاره ( رحصت او ضرورت) لارښوونې په اصولو کې ښودلي، چې دلته هم د مونث او مذکر کارکول لپاره په اسلام کې ځینې اصول تعریف شوي، د مقابل جنس سره ګډ کار کول هم په روغتونونو او تعلیمي مسؤساتو کې د اشد ضرورت له کبله کولی شي ، خو اسلام د ازدانه اختلال جواز نه ورکوي لکه بغیر د اسلامی اصولو په پام کې نیولو پرته د ښځیناوو سره ازادنانه او بې ضرورته خبرې یوازې خوراک او ځښاک کول او نور .

که په واضح او اصولي ډول سره ووایو چې د ښځینه او نارینه ؤ لپاره باید په جدا ډول سره صحي سیستم موجود وي ترڅو دوی خپل ضروریات په ښه شان سره پکې تحقیق کړای شي لکه په اوسنۍ وخت کې دا ممکنه نده یوازې په اعظمي ډول سره د اسلام د اصولو په چوکاټ په کار کولو او د ضرورت او رحصت قواعدو لاندې چې د مقابل جنس سره تعامل هم پکې شامل وی دغه کار ترسره کړي فقهاوؤ د اسلامي اصولو په پام کې نیولو سره پدې برخه کې ځینې حل لارې وړاندې کړې دي.

دا دې صحي برخې او اداري کارمندانو مسؤلیت دي ترڅو په مربوطه مؤسساتو او روغتونونو کې د اشد ضرورت استسنائي حالاتو او عواملو ته په کتو سره دا احکامات او حل لارې پلي کړي ، همدارنګه د اسلامي ډاکټرانو، اداري کارمندانو څارنکوو( منیجرانو) هم مسؤلیت جوړیږي ترڅو د منظم تربیت له لارې په خپلو شاګردانو استادانو او صحي کارکوونکو د اسلامي احکاماتو او لارښوونو ارزښت لوړ کړي، او په خپل روغتون کې د اسلامي کلچر لاندې د محیط رامنځته کولو لپاره هلې ځلې وکړي.

همدارنګه کله چې د الله (ج) ویره او د اخرت ورځ یاد په زړونو کې وي نو خلک به د اسلامي احکامو د نرمښت صرف د ضرورت په توګه استعمالوي او له هغه څخه به غلطه استفاده نکوي ځینې مهم اداب د مقابل جنس سره د تعامل اړوند چې په لاندې ډول ورته اشاره کیږي.

## د لباس اړوند آداب

دواړه نارینه او ښځینه باید لاندې اداب په پام کې ونیسي.

- لباس باید ټول وجود پټ کړی یوازې هغه برخې چې الله (ج) ورته اجازه ورکړې ځرګندولی شي.
- لباس باید دومره نری نه وي چې له هغه څخه د وجود برخې ښکاره شي .
- او لباس نه باید دومره تنګ او چسپ وي چې لاندې وجود ورڅخه ښکاره کیږي.
- په کومه ټولنه کې چې د یو جنس لپاره لباس مشخص وي نو مقابل جنس یې باید هماغه ډول لباس ونه غوندي څکه چې په داسې ښځینه چې د نارینه لباس اغوندي او د نقلیه کوي او نارینه چې د ښځینه لباس اغوندي او تشبیه یې کوي نبي کریم (ص) پرې لعنت ویلی.
- مسلمان باید په لباس کې د غیر مسلمو نقلیه ونه کړي .
- لباس باید غرور او تکبر سبب ونه ګرځي.
- ښځې له کوره بهر ته د وتلو پرمهال باید عطرونه ونه لګوي او د خپل ځان ښکاره نه کړي څکه چې د نورو خلکو د فتنو سبب ګرځي.

## د فزیکي معاینې پرمهال آداب

د اسلام اساسي زده کړو څخه دا معلومیږي، چې د کار لپاره باید نرینه او ښځینه جدا محیط او کار ځای ولري خو بیا هم په ځینو حالاتو کې د مقابل جنس سره د تعامل اجازه شته د مثال په ډول کله چې په مربوطه برخه کې د هماغه جنس یو لایقه ډاکټر موجود نه وي نو پدې وخت نارینه ډاکټر یا نرس ښځینه ناروغ او ښځینه ډاکټره یا نرسه نارینه ناروغ معاینه کولی شي خو لاندې اداب باید په پام کې ونیسی.

- د سترګو او زړه حفاظت کول .
- یوازې مطلوبه او ضروري برخه باید د معاینه شي یا هغه برخه چې تصمیم او تشخیص ور پورې تړلې وي.

- د ښځینه ناروغ د معاینه کولو پرمهال باید یوه بله ښځینه یا نرسه او یا هم محرم موجود وي یوازې او ګوښه معاینه کول په هیڅ صورت جایز نه دي، ځکه چې د ناروغ محرمیت باید په پام کې ونیول شي او تصمیم مربوطه حالت ته  په کتو سره نیول کیږي.
- ناروغ باید تشویق شي تر څو د هماغه جنس مربوط  ډاکټر سره کتنه او مشوره ترسه کړي یوازې په هغه حالت کې د مقابل جنس ډاکټر ته مراجعه کولی شي چې پخپل جنس کې لایقه او با تجربه ډاکټر موجود نه وي.

## د مقابل (مخالف) جنس سره د خبرو کولو آداب

لاندې اداب باید په پام کې ونیول شي.

- خبر دې ضرورت مطابق وي.
- د خبرو اوږدولو لپاره باید بهانه ونه لټول شي.
- د حساسو مسایلو پرمهال باید زیات احتیاط وشي خصوصاً په جنسي مسایلو کې مؤدب الفاظ باید استعمال شي له محرک کوونکي لغاتو باید ډډه وشي.
- د غیر ضروري شخصي معلومات اخیستو باید ډډه وشي.
- کله چې ښځینه ډاکټره یا نرسه د نارینه ناروغ یا د هغه له پایواز سره خبرې کوي د خبرو تمرکز باید په مربوطه موضوع باندې وي د خبرو کولو پر مهال یې باید په خبرو کې جذا بیت او نرمښت نه وي د غږ اواز یې دروند او سخت وي مګر خبرې باید تندې او بې ادبه نه وي ددې لپاره ترڅو د غلط فهمۍ مخه ونیول شي .
- که چیرې یو نارینه ډاکټر د ښځینه ناروغ سره خبرې کوي نو د ناروغ محرومیت باید په پام کې ونیول شي او خبرې باید د محرم یا بلې ښځینه په شتون کې ورسره وشي.
- کتنه باید د اسلامي حجاب او ستر په پام کې نیولو سره وشي.

## د کار سفر او ملاقاتونو حدود او آداب

زیاتره وخت د روغتون کارکوونکي د مسلکي ودې کار یا د نورو سره ملاقاتو لپاره سفر کوي چې ددې سفر تر لاسه شوي پوهه باید د خپلو هم مسلکو سره شریکه شی ترڅو هغوی هم ورځخه برخمن شي ، سفر باید د علمي مقصد لپاره وي نه دا چې د تفریح او ساعت تیري لپاره او کله چې د يوې ښځینه لپاره سفر ضروری وی نو باید د سفر په مهال ورسره محرم موجود وی او سفر هغه وخت سفر تعریفیږي کله چې فاصله د ۴۸ میله څخه لېرې وي .

کله چې ښځینه ټریننګ یا اشد ضروري تعلیم د حاصلولو لپاره د مؤسسې لخوا په سفر لیږل کیږي نو لاندې لارښووني د انستیتیوټ لخوا باید په پام کې ونیول شي .

- سفر باید یوازې د تعلیم د حصول لپاره وي او څومره زر چې مکمله وي د تعلیم د حصول وروسته زر تر زره را واپس کړی شي.
- نارینه څارونکي یا ناظر باید نارینه او ښځینه باید ښځینه شاګردان او ځوان ناظر او څارونکي باید یو صادق او اعتماد وړ شخص وي.
- ښځینه څارونکی( سوپروایزرونه) باید یوازې نه وي او د سفر پر مهال باید محرم ورسره وي.
- لباس حجاب باید مراعت کړل شي، د زينت او ښکلا د ښکاره کولو څخه باید ډډه وکړي.

## د مقابل جنس سره ( جذابیت) د مخنیوي لپاره میتودونه او آداب

په روغتون کې د پاملرنې (کتنې) پرمهال د مقابل جنس د میل کمولو لپاره بغیر لدې چې د ناروغانو د کتنې د پاملرنې کیفیت ته زیان ورسیږي لاندې نقطې باید په پام کې ونیول شي.

- د ملاقات کوونکو لپاره وخت مشخص شي او ټاکلي وخت کې ملاقات خلاص کړي.
- د روغتون اداره باید هر چیرکت لپاره یو پرده ولګوي کچیرې دا ممکنه نه وي نو داسې یو ترتیب د جوړ کړي چې کله نارینه ډاکتران ښځینه وارډ ته ځي نو مخکې له مخکې دوی خبر کړی ترڅو خپل ځانونه پټ کړی چې دا کړنه اکثره د وارډ د ویزټ د شروع کیدو څخه لږ مخکې ترسره کیږي.

- د ناروغ ترځنگ کیناستل او ملاقات د ممکنه حده پورې باید زر خلاص شي ځکه چې د نبي کریم (ص) عادت مبارک هم دا ؤ چې د ناروغ د پوښتنې پرمهال یې د هغه سره وخت او ملاقات د کم وخت لپاره کاوه ترڅو ناروغ په تکلیف نشي.
- که چیرې ممکنه وي دخول او خروج د دروازې د نارینه او ښځینه لپاره جدا وي.
- بیلابیل انتظار خونې او د لاس مینځلو ځایونه د برابر کړل شي.
- د کارمندانو او مامورینو لپاره جدا اطاقونه.
- په ښځینه برخو لکه لابراتوار او راډیولوژي کې جدا کار ستیشنونو جوړیدل.
- د نارینه لپاره د جدا کتابخانې، کانتین او نور امکاناتو برابرول.

## د درمل جوړونکو شرکتون سره د روغتونو او کارکوونکو ډاکټرانو تعامل

### عمومي اصول

- د ناروغانو حقونه ډېر مهم دي د شرکت سره هیڅ ډول اړیکه Arthility د ناروغ د بوج یا د غلطو معلومات لامل نشي.
- د شخصي او غیر ضروري ګټې څخه ډډه وکړئ تر څو په غیر اخلاقي فعالیت کې ښکیل نشي.
- له اسلامي اصولو ښکاره سرغړونه په هیڅ ډول د منلو وړ نه ده حتی د هغه کړنو چې دهمدې لامل ګرځي هم باید ډډه وشي.
- د دوا شرکتونو سره همکاري باید په هیڅ صورت سره د شخصي منارو پخاطر نه وي.

### درملو د استازي سره لیدنه، تحفې او Promatinal توکي.

- ډاکټر کولای شي د ډاکټرانو د ټولنې په منځ پرته د دوی د رتبو ، موقف په نظر کې نیولو سره د کم قیمت دوا ارقام عمومي شایع کړي خو پدې کې باید په ډاکټر باندې فشار نه وي او ډاکټر باید د جبر او فشار احساس ونه کړي .
- ډاکټر باید د شخصي مفاد او یا دقیمتي شیانو لکه مبایل ، ایرکنډیشن او کمپیوټر لپاره د دوا ارقام ونه لیکي.
- د رښتینی تعلیمي فعالیت لپاره د طبي کتابونو، متن، حوالو ژورنالونو منل ، د دواګانو سمپل یا نمونې د ډاکټر لخوا منل کیږي او صرف باید د غریبو ناروغانو لپاره استعمال شي د خرڅلاو څخه یې ډډه وشی او نه هم په جبري ډول په کوم شخص باندې استعمالیدلی شي.
- د شرکت نماینده باید د ډاکټر سره په فارغ وخت کې وګوري نه د کار په مهال چې بهر ورته ناروغ منتظر وي.

## په روغتون کې دوامداره طبي زده کړې ، ملاقاتونه ، کنفرانسونه

- دا ډول ملاقاتونه په اصل کې د نویو څېړنو ، تجربو، تخنیکي مهارتونو او تخصصي پروسېجرونو د شریکولو او ترلاسه کولو لپاره جوړېږي چې په ورته مهال عمومي میلمه پالنه او خوراک تنظمیږی چې د غونډې یا ملاقاتونو اصلي هدف ته زیات ونه رسوي او خوراک هم باید ساده وي اصراف پکې ونه شي.
- گیمونه تفریحي فعالیتونه ، کنسرتونه د داسې غونډې څخه وروسته ترسره نشي .
- داسې غونډې او ملاقاتونه باید د روغتون یا کلینیک په کاري وخت کې ترسره نشي.
- روغتونونه او یا تعلیمي مؤسسې باید ډاډ ترلاسه کړي چې داسې غونډې د ربښتیني تعلیمي ضرورت په اساس جوړیږي.
- ډاکټران یا مدیران د داسې ملاقاتونو او غونډو جوړولو لپاره باید چې شرکتونه مجبور نه کړي.

## طبي تحقیق یا څېړنه

روغتون باید ډاکټرانوته اجازه ورکړی ترڅو د دوا په تحقیقي فعالیتونو کې برخه واخلي خو ددې تحقیق لپاره باید ټول ساینسي اخلاقي حقوقي ضروریات موجود او د نړیوالو منل شویو اصولو او ښه عملي کړنو پر بنیاد ترسره شي.

- د تحقیق لپاره پیسې یوازې باید د IRB او یا ددې لپاره د تعین شوي اشخاصو څخه واخیستل شي.
- د تحقیق کوونکي د دوا د رقم د کلینیکي ازمايښت او یا په ازمايښت باندې د وخت د ضایع له امله خپل اجورت اخیستي شي مگر باید د دوا یا پروسېجر د مشهورولو یا مارکیټینک برخه باید ونه اوسي.
- کله چې تحقیق د یو کارکوونکي د وخت رسمي ساعتونو نیسي نو بغیر له مناقشي همدغه کارکوونکي یا انستیزي باید ددې تحقیق له ټولو گټو او د لیکو د حقوقوڅخه برخمن وي .

## د روغتون سره دوا شرکت  همکاري

- د خیریه روغتون  ډاکټر یا اداره له شرکت څخه د خیریه روغتون سره د کومک کولو غوښتنه کولی شي چې د دغه کومک غوښتنه هم باید د شخصي مفاد لپاره نه بلکې ددې عامه خیریه بنسټ لپاره وي ، همدارنګه شرکت د ناروغ د فایدې او د تحصیل په هدف د کمپیوټرونو طبي وسایلو، د کاپۍ ماشین ژورنالونو ، کتابونو او پرنیچرونو چې د همدې خیریه بنسټ برخه یا ملکیت ګرځي مرسته کولی شي.
- داکتر د خپل شحصی کلنیک یا روغتون سره د یاد شویو شیانو عوښتنه نشی کولای .
- شرکتونه کولی شي د خیره بنسټ لپاره کتابونه او رسالې چاپ او نشرکړی په دغه کتابو او رسالو باندې خپل نوم  بلکه د دوا د رقم نوم نشي لیکلي.

اللّٰهُمَّ اَرِنَا الحَقَّ حَقّاً وَّارزُقنَا اتِّبَاعَهُ وَاَرِنَا البَاطِلَ بَاطِلاً وَّارزُقنَا اِجتِنَابَهُ

ترجمه: ای الله! حق زموږ لپاره حق ښکاره کړه او موږ د هغه تابع وګرځوه او باطل زموږ لپاره باطل ښکاره کړه او موږ د هغه څخه وساته.

ومن الله التوفیق

## له روغتون څخه رضایت لیک

| ګڼه | روغتون | هو | نه | شاید |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ایا روغتون همیشه حناء ووٌ؟ | | | |
| ۲ | ایا هرڅه مسلکي مخته ولاړل؟ | | | |
| ۳ | ایا خدمات ښه وٌ ؟ | | | |
| ٤ | ایا کارکوونکي پام ساتونکي وٌ ؟ | | | |
| ٥ | ایا د کارکوونکي لباس اسلامي وٌ ؟ | | | |
| ٦ | ایا SOPS اسلامي وٌ ؟ | | | |
| ۷ | د روغتون کارکوونکو (ډاکټر، نرس او نورو) اسلامي اخلاق او رویه تعقیبوله ( درلوده یې) ؟ | | | |
| ۸ | ایا کارکوونکي له خپل کاري محیط خوشاله دي؟ | | | |
| ۹ | ایا کارکوونکي د مالکیت احساس کوي؟ | | | |
| ۱۰ | ایا د روغتون اداره له ټولو ناروغانو Feed Back اخلي او هغه تحلیل کوي؟ | | | |
| ۱۱ | ایا د لارښود اصول د مقاصدو شریعه په اساس دي؟ | | | |
| ۱۲ | ایا عبادت دوسته وٌ ؟ | | | |
| ۱۳ | ایا ټولني کړني او اهداف د الله (ج) د رضاء په خاطر وٌ ؟ | | | |